# د افغانستان د ۲۰۱۸ کال د بشري حقونو راپور

## د رپوټ لنډيز

افغانستان يو اسلامي جمهوريت دی چې ولسمشر يې په مستقيمه بڼه انتخاب کيږي، دوه خونيزه مقننه او يوه قضايي څانګه لري. د هغه انتخاباتي تقويم له مخې چې په اساسي قانون کې ياد شوی، د ولسي جرګې ټاکنې بايد په ۲۰۱۵کال کې ترسره شوې واې، خو د بيلابيلو لاملونو له کبله د ۲۰۱۸ کال تر اکتوبر پورې وځنډيدې. ټاکنې د اکټوبر پر ۲۰ او ۲۱ په ټولو ولايتونو کې ترسره شوې، خو په غزني کې د يوې پخوانۍ سياسي لانجې له کبله ترسره نشوې او په کندهار کې د اکتوبر پر ۱۸ د پوليسو د مشر، عبدالرازق، د وژولو له کبله وځنډيدې. په کندهار کې ټاکنې د اکټوبر پر ۲۷ ترسره شوې خو د کال تر پايه د غزني د ټاکنو مهالويش څرګند نشو. که څه هم ډيرو خلکو په ټاکنو کې ګډون وکړ، خو زورزياتيو، تخنيکي ستونزو، بې نظميو، رايه ورکونکو ته ګواښنو، رايو کې لاسوهنو او د ټاکنو د کميسيون د کارکوونکو او پوليسو مداخلتونو پر ټاکنو سيوری غوړولی و. په ځينو مواردو کې د سيميزو مشرانو د فشار له کبله د رايې ورکولو مرکزونه وتړل شول.

ملکي چارواکو په عمومي ډول پر امنيتي ځواکونو کنټرول وساته، خو امنيتي ځواکونو کله نا کله په خپلواکه توګه عمل کاوه.

د بشري حقونو په مسايلو کې د امنيتي ځواکونو لخوا ناقانونه وژل؛ اجباري ورکيدل؛ شکنجه؛ په زور توقيفول؛ په زور بندول؛ بدنامول يو جرمي عمل ګرځول؛ دولتي فساد؛ له ښځو سره د زورزياتيو د پېښو په پلټنو کې د حساب ورکولو نشتون، د هغو کسانو په ګډون چې په اخلاقي جرايمو تورن و؛ د امنيتي ځواکونو لخوا له ماشومانو جنسي ګټه اخيستنه؛ د امنيتي ځواکونو لخوا د همجنسبازانو، ګې جنسبازانو، او د نورو جنسي ډلو (ال جي بي ټي آی) په ضد زورزياتی کول؛ او د خبريالانو په وړاندې زورزياتی راتلل.

د قانون انفاذ نه پراخې سرغړونې او د بشري حقونو د سرغړونکو رسمي معافيت، جدي ستونزې وې. دولت په پرله پسې او اغيزمن ډول د امنيتي ځواکونو په ګډون د سرغړونکو چارواکو په وړاندې قانوني اقدامات ونکړل.

وسله والو ياغي ډلو پر ملکيانو عمده بريدونه ترسره کړل او په دولت پورې تړلي کساني يې په عمدي توګه وژل. طالبانو او نورو ياغيانو د امنيتي ځواکونو د کارکوونکو او ملکيانو وژلو ته دوام ورکړ او په لاس د جوړ شويو بمونو (آی ای ډي)، ځانمرګو بريدونو او راکټي بريدونو نه يې بيله توپيره کاراخيست، او خلک يې تري تم او شکنجه کول. په افغانستان کې د ملګرو ملتونو مرستندويه اداری (يوناما) د کال په لمړنيو نهو مياشتو کې د ملکي مرګ-ژوبلې ۶۵ سلنې (۱۷۴۳ وژنې او۳۵۰۰ ټپيان) پره پر دولت-ضد عناصرو واچوله. طالبانو او د داعش-خراسان ايالت ډلو له ماشومانو نه د ځانوژونکو بريدګرو، سرتيرو او د وسلو په ليږدولو کې کار اخيست. نورو دولت ضد عناصرو پر

حکومتي کارکوونکو، بهرنیانو، د روغتیایي او غیرحکومتي سازمانونو پر کارکوونکو او ملکیانو باندې بریدونه کول او په ګوابښولو، تالانولو او اختطاف کې یې لاس درلود.

**لمړۍ برخه. د فرد اصالت ته درناوی، د دې آزادۍ په ګډون:**

**الف. له حیات نه جبراً محروموول او بل ډول ناقانونه یا سیاسي وژنې**

ډیر راپورونه و چې دولت یا یې اجنټانو جبري او ناقانونه وژنې ترسره کولې. د جنورۍ له ۱ نه د سپټامبر تر ۳۰ پورې، یوناما د ۲۰۱۷ کال د همدې مودې په پرتله د ملکیانو په وژلو کې د زیاتیدلو راپور ورکړ، چې له ۲۶۶۶ نه ۲۷۹۸ ته یې ډیروالی وښود. د ملکیانو په وژنې کې د دولت پلوو ځواکونو ونډه له ۵۶۰ کسانو نه ۷۶۱ ته وخته. په ټولیزه توګه، د ملکیانو په مرګ-ژوبلې کې له ۸۰۸۴ نه ۸۰۵۰ ته کمی راغی.

د یوناما د کلني راپور له مخې چې په فبروۍ کې خپور شو، د پکتیا ولایت په زرمت ولسوالۍ کې سیمیزو پولیسو د ۲۰۱۷ کال په سپټامبر کې پر یوه کور د یرغل او شوکمارۍ په هدف برید وکړ او یو ملکي کس یې وواژه او دوه نور یې ټپیان کړل. که څه هم چې دولت د ځینو ناقانونه وژنو پلټنه او څیړنه وکړه، د امنیتي ځواکونو معافیت، په ځانګړې توګه د سیمیزو پولیسو معافیت، یوه ستونزه پاتې شوې وه.

ګڼ داسې راپورونه و چې طالبانو، داعش-خراسان او نورو یاغي ډلو سیاسي وژنې کولې او خلک یې ژوبلول. یوناما د کال په لمړیو نهو میاشت کې د حکومت ضد او ترهګرو ځواکونو په بریدونو کې د ۱۷۴۳ ملکیانو د وژل کیدلو راپور ورکړ. دغو ډلو ته د ملکیانو د مرګ-ژوبلې ۶۵ پړه متوجه وه، په ۲۰۱۷ کال کې دغه شمیره ۶۴ سلنه وه. د اګست په ۱۵، داعش-خراسان په کابل کې په یوه ټولګي کې پر زده کوونکو په عمدي بمي برید کې ۴۸ کسه ووژل او ۶۷ یې ټپیان کړل.

**ب. ترې تم کول**

د خلکو په ترې تم کولو کې هم د امنیتي ځواکونو اوهم د دولت ضد ځواکونو د لاس لرلو په اړه راپورونه و.

یوناما د کال په نیمایي کې د جګړې پورې تړلو توقیف شوو کسانو سره د چلند په راپور کې وویل چې د کندهار پولیسو لخوا د خلکو د ترې تم کولو په اړه ګڼې ادعاوې شته.

دوه پروفیسوران چې د افغانستان په امریکایي پوهنتون کې یې کار کاوه په ۲۰۱۶ کال کې په کابل کې د طالبانو لخوا اختطاف شول او یرغمل پاتې شول.

## ج. شکنجه او نور ظالمانه، غیرانساني یا د بې عزته کولو چلند یا مجازات

که څه هم چې اساسي قانون او نور قوانین دغه ډول چلندونه منع کوي، ګڼ شمیر راپوړونه و چې دولتي چارواکي، امنیتي ځواکونه، د توقیف ځایونو چارواکي او پولیسو دغه ډول سرغړوني ترسره کړې دي. نادولتي سازمانونو راپور ورکړ چې د ملکیانو د وهلو او ربړولو په ګډون، امنیتي ځواکونو له ناانډوله ځواک نه کار اخیست. د اپریل پر ۱۷، حکومت د شکجنې او نور ظالمانه، غیرانساني یا بې عزته کولو چلند یا مجازاتو په اړه د ملګرو ملتونو د کنوانیسون اختیاري پروتوکول تایید کړ، چې دا د تیرکال د شکنجې د منعې د قانون ورپسې پرمختګ و. خو خپلواکو څارونکو په توقیف ځایونو کې د شکنجې د کارولو په اړه کره راپوروونه ورکړل.

یوناما د ۲۰۱۷ اپریل کې د جګړې پورې تړلو توقیف شوو کسانو سره د چلند په راپور کې وویل چې د ملي امنیت، ملي پولیسو، او د افغان ملي دفاعي او امنیتي ځواکونو په توقیف کې له ۴۶۹ کسانو سره مرکو نه ۳۹ سلنه یې وویل چې شکنجه او ځورول شوي دي. د ځورولو ډولونو کې وهل، بریښنایي شوک، د ډیرې مودې لپاره له لاسونو ځړول، خپه کول، د خوټو کښیکاږل، د سګریټ په لایټر سوځل، بې خوبې، جنسي برید، او د اعدام ګواښنې راتلې.

د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمیسیون د جون په میاشت کې په توقیف ځایونو کې د شکجنې په اړه په یوه راپور کې وویل چې له ۶۲۱ بندیانو سره چې مرکې ورسره شوې وې، ۷۹ کسانو چې د ټولو ۱۲ سلنه یې جوړول، وویل چې د اعتراف په اخیستلو کې شکنجه شوي او مجازات ورکول شوي و. دغه کمیسیون وویل چې لدغو ۷۹ کسانو نه ۶۲ یې ملي پولیس ګرم بلل او ورپسې د ملي امنیت او نور ځواکونه ګرم بلل کیدل.

د ۲۰۱۶ کال په نوامبر کې، د جمهور رئیس لمړي مرستیال جنرال عبدالرشید دوستم باندې تور ولګول شو چې یو ازبک قومي مشر او سیاسي سیال، احمد ایشچي، یې وتښتاوه. تر توقیف وړاندې، دوستم خپل ساتونکي پرېښودل چې ایشچي په بې رحمانه ډول ووهي. تر څو ورځو توقیف وروسته، ایشچي ادعا وکړه چې دوستم او کسانو یې هغه وواهه، شکنجه یې کړ او جنسي تیرى یې ورباندې وکړ. په ترکیه کې تر څه باندې یو کال استوګنې وروسته، دوستم د جولاې په میاشت کې راستون شو او د جمهور رئیس د لمړي مرستیال په توګه یې کار له سره پیل کړ. د اګست تر میاشتې پورې، د ایشچي د دوسیې هیڅ پرمختګ نه و شوی.

ګڼشمیر راپوروونه و چې طالبانو، داعش-خراسان او نورو دولت ضد ډلو خلک په ظالمانه، ناانساني ډول شکنجه، مجازات او بې عزته کول. د بشري حقونو خپلواک کمیسیون او نورو سازمانونو راپوروونه ورکړل چې د طالبانو د لنډو محاکمو په لړ کې خلک اعدام کیدل، سنګسار کیدل یا یې سرونه ترینه پرې کیدل. د رسنیو د راپوروونو له مخې، طالبانو د سرپل ولایت په کوهستان ولسوالۍ کې یو سړی د فبرورۍ په میاشت کې د زنا په تور سنګسار کړ. د داعش-خراسان د زورزیاتیو

راپوروونه هم و لکه په اپریل کې د جوزجان ولایت په درزاب ولسوالۍ کې د یوه ۱۲ کلن ماشوم نه سر پرې کول، په اپریل کې، د ننګرهار ولایت په چپرهار ولسوالۍ کې د دریو روغتیایي کارکوونکو سرونه غوڅول، او په فبرورۍ کې په ننګرهار کې د یوه نارینه سنګسارول.

**د زندان او توقیف ځای شرایط**

په زندان کې شرایط د ګڼه ګوڼې، ناپاک چاپیریال او روغتیایي خدماتو ته د محدود لاس رسي له کبله سخت و. د محابسو او توقیف خانو لوی ریاست چې د کورنیو چارو وزارت تر واک لاندې راځي، د پلچرخي د ستر محبس په ګډون په هیواد کې د ټولو ملکي محابسو او توقیف ځایونو (د نارینه و او ښځو) مسوولیت لري. د عدلیې وزارت پورې اړوند د ماشومانو د اصلاح د مرکزونو ریاست په هیواد کې د ټولو دارلتادیبونو مسوولیت په غاړه لري. د ملي امنیت ریاست په خپلو ولایتي او د ولسوالیو په مرکزونو کې د لنډ توقیف خانې لري. د ملي دفاع وزارت په پروان کې د افغان ملي توقیف خانې چارې ترسره کوي. کره راپوروونه و چې د افغانستان ملي امنیتي او دفاعي ځواکونه شخصي توقیف خانې لري چې خلک پکښې ځورول کیږي. طالبان هم په ټول هیواد کې ناقانونه توقیف خانې لري. افغان ځواکونو د کال په لړ کې د طالبانو توقیف خانې کشف کړل او خلک یې ترینه آزاده کړل، دوي ویل چې په دغو توقیف ځایونو کې ماشومان او هغه افغانان و چې په اخلاقي جرایمو تورن و یا له دولت سره په اړیکه لرلو تورن و ساتل ګیدل.

<u>فزیکي شرایط:</u> ګڼه ګوڼه په محابسو کې یوه جدي او پراخه ستونزه ده. د سره صلیب د نړیوال سازمان د معیاري سپارښتنو مطابق، د ۳۴ ولایتي محابسو نه په ۲۸ کښې یې په ډیر جدي ډول ګڼه ګوڼه وه. د هیواد ترټولو ستر محبس پلچرخي کې د اکتوبر پورې ۱۳۱۱۸ بندیان، توقیف شوي افراد او د بندي میندو ماشومان و چې د زندان تر ظرفیت ۵۵ سلنه ډیر و. په اګست کې د پلچرخي ۵۰۰ بندیانو د زندان خرابو شرایطو ته په اعتراض کې، په ځانګړې ډول زړو او ناروغو بندیانو لپاره، او د دوي د دوسیو د نه مدیریت په خاطر د یوې اونۍ لپاره د نه خوړلو اعتصاب کړی و.

په عمومي ډول چارواکو د دې اسانتیاوې نلرلې چې محکومه شوي او تر محاکمې وړاندې بندیان له یو بل نه جلا وساتي یا کشر محبوسین د هغوي د جرایمو د شدت سره سم په بند کې وساتي. سیمیز محابسو او توقیف ځایونو کې تل د ښځینه بندیانو لپاره جلا ځایونه نه و.

د رسنیو او نادولتي سازمانونو د راپوروونو پر بنسټ، تر ۱۵ کم عمره ماشومان له خپلو میندو سره بندي ساتل کیدل ځکه د نورو لاملونو تر څنګ د ماشومانو د ملاتړ مراکز نه و. دغو راپوروونو کې ویل کیدل چې د ماشومانو د روزنې او روغتیا لپاره ډیر امکانات نه و.

خوړو، پاکو اوبو، پاک چاپیریال، ګرمې هوا، د هوا د بدلولو سیستم، بریښنا، او روغتیایي خدماتو ته لاس رسی د هیواد په کچه توپیر درلود او په عمومي ډول نیمګړي وه. د محابسو او توقیف ځایونو لوی ریاست د بندیانو د خوراک لپاره ډیره محدوده بودیجه لرله، او ډیرو بندیانو له خپلو کورنیو تمه

کول چې اضافي خوراکي مواد او نور اړین توکي ورته برابر کړي. د ۲۰۱۷ کال په نوامبر کې د افغانستان د روڼتیا د څار په نامه یوه نادولتي سازمان راپور ورکړ چې د وردګو په محبس کې د پاکو اوبه هیڅ سرچینه نه وه او بندیانو په پلچرخي، بغلان او وردګو کې خوړو ته ډیر کم لاس رسی درلود او بندیانو له خپلو کورنیو تمه کول چې د دوي خوراکي تشه ورډکه کړي.

اداره: قانون بندیانو ته حق ورکوي چې د کورنۍ د لیدلو لپاره تر شلو ورځو پورې له زندان نه ووځي. اکثریت بندیان لدغه حق څخه نه برخمن کیدل، او قانون هم پر بیلابیلو بندیانو د تطبیق په اړه وضاحت نلري.

خپلواکه څارنه: د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمیسیون، یوناما او سور صلیب د ملي امنیت، کورنیو چارو وزارت، عدلیې وزارت او د ملي دفاع وزارت د توقیف ځایونو څارنه کوله. د ناټو غوڅ ملاتړ ماموریت د ملي امنیت، ملي دفاع وزارت او د ملي پولیس د تاسیساتو څارنه کوله. امنیتي محدودیتونو او د چارواکو خنډونو د توقیف ځایونو د ځینو برخو د لیدلو مخنیوی کاوه. یوناما او د بشري حقونو خپلواک کمیسیون ویل چې د ملي امنیت توقیف ځایونو ته په نابربره ورتګ کې ستونزه لري. د بشري حقونو خپلواک کمیسیون ویل چې د ملي امنیت چارواکي ترینه غواړي چې له توقیف ځایونونو تر لیدنې حداقل یوه یا دوې ورځې دمخه د رسمي لیک له لارې غوښتنه وکړي.

د ملي امنیت چارواکو یوناما او د بشري حقونو د خپلواک کمیسیون مامورینو ته اجازه نه ورکول چې د ملي امنیت تاسیساتو ته له ځان سره کامرې، موبایل ټلیفون، د ثبتولو آلات یا کمپیوټرونه یوسي، او لدې کبله څارونکو نشو کولاې چې د فزیکي زورزیاتي لکه ټپونه، زخم او نورو ټپونو مستندات واخلي. ملي امنیت په خپلو تاسیساتو کې د شرایطو د څار لپاره یو ډګرمن ګمارلی و.

### د. خپل سري نیول او توقیف

قانون خپل سري نیول او توقیف منع کوي، خو دواړه جدي ستونزې پاتي شوې دي. چارواکو ډیر خلک توقیف کړل بیله دې چې د خوندیتوب اساسي لاروچارو ته درناوي وکړي. د نادولتي سازمانونو په حواله، د قانون د انفاذ مامورینو بیله قانوني څرګندتیاو او اصولي اقداماتو په خپل سر د خلکو نیولو ته دوام ورکړ. راپورونه و چې د قانون د انفاذ سیمیزو مامورینو په ناقانونه ډول خلک پداسې تورونو توقیف کول چې د جزا په سیمیزو قوانینو کې شتون نه درلود. په ځینو حالاتو کې چارواکو ښځې په ناسم ډول بند کې واچولې ځکه دوي داسې انګیرل چې خپلو کورونو ته د هغو بیرته تلل خوندي نه و یا په ولایت یا ولسوالی کې د ښځو د امن کورونه نه و چې د دغو ښځو ساتنه پکښې وشي (۶ برخه ووینې، ښځې). قانون خلکو ته حق ورکوي چې تر محکمې دمخه د خپل توقیف مخالفت وکړي او محکمه باید د دوي عرض واوري، خو چارواکو په عمومي توګه دغه قانوني اړتیا نه پوره کوله.

**د پولیسو او امنیتي بنسټونو ونډه**

په هیواد کې د نظم او د قانون انفاذ لپاره درې وزارتونه مسوولیت لري: د کورنیو چارو وزارت، د ملي دفاع وزارت، او د ملي امنیت عمومي ریاست. ملي پولیس چې د کورنیو چارو وزارت تر مشرۍ لاندې کار کوي، د هیواد د کورني نظم او د سیمیزو پولیسو، چې د سیمو د دفاع ځواک بلل کیږي، مسوولیت لري. د درنو جرمونو سره د مبارزې مبارزې ځواک (ام سي تي اف)، چې هغه هم د کورنیو چارو وزارت لاندې راځي، د حکومتي فساد، انساني قاچاق، او جرمي سازمانونو په څیر د سترو جرایمو پلټنه کوي. د افغانستان ملي پوځ، چې د ملي دفاع وزارت لاندې راځي، د بهرني امنیت مسوولیت لري، خو په اصل کې د هیواد دننه یاغیانو سره جنګیږي. د ملي امنیت ریاست د استخباراتي ادارې دنده لري او د ملي امنیت په تړاو د جرمي دوسیو او پیښو پلټنې یا تحقیقات کوي. د ملي امنیت د تحقیقاتو څانګې په کابل کې یوه ودانۍ لرله چې پکښې یې د هغو امنیتي بندیانو ساتنه کوله چې د خپلو دوسیو د پلټنو په انتظار کې وه. ځینې سیمې د دولت تر واک دباندې وې، او د طالبانو په ګډون د دولت ضد ځواکونو پکښې خپل عدلي او امنیتي سیستمونه پلي کول.

په ټول کال کې د امنیتي ځواکونو د معافیت او حساب نه ورکولو راپورونه ورکول کیدل. د څارونکو په حواله، د ملي پولیسو او سیمیزو پولیسو منسوبینو په پراخه توګه د خپلو مسولیتونو او د تورنو کسانو د قانوني حقونو په اړه نه پوهیدل. د شکنجې او ناوړه کار په تړاو د ملي امنیت، ملي پولیسو او سیمیزو پولیسو د چاروکو حساب ورکول ضعیفه و، روڼتیا یې نلرله او په ندرت پلي کیدل. د جرایمو او ناوړه کارونو د تحقیقاتو او پلټنو په مهال پر ملي امنیت، د سترو جرایمو سره د مبارزې ریاست، ملي پولیسو او سیمیزو پولیسو باندې خپلواکه او بهرنۍ قضایي څارنه، د شکنجې او ناوړه کار په ګډون، محدود و یا یې هیڅ شتون نه درلود.

**د نیولو دولونه او له توقیف شوو سره چلند**

یوناما، د بشري حقونو خپلواک کمیسیون او نورو څارونکو راپورونه ورکړل چې خپل سري او اوږدمهاله توقیف په ممتد ډول په ټول هیواد کې ترسره کیدل. چارواکو ډیرځلې توقیف شوو کسانو ته د هغوي تورونه نه روښانه کول.

د جزا نوی قانون چې د فبرورۍ په میاشت کې نافذ شو، په جزایي قوانینو کې نوي مواد او لارې چارې راوړي چې د بالغو کسانو د بندولو بدیلې لارې هم پکښې شته. په عامو خلکو او د قضایي څانګې په فعالینو کې د دې نوي جزایي قانون ډیر پوهاوې او شناخت نه و، خو د افغانستان د ۲۰۱۷ کال جزایي قانون د انفاذ په اړه د یوناما یوې سروې او لمړنیو موندنو کې وویل شول چې د اپریل او جولای تر منځ، محاکمو په عمومي توګه نوی قانون پلي کاوه او خبر وه چې څه مهال باید تطبیق شي.

اوسنی قانون حقوقي مشورې او د جواز د کارولو حق ورکوي او دغه راز له تور پرته د بند محدودیت څرګندوي. پولیس کولای شي چې یو شکمن کس د لمړنیو تحقیقاتو تر بشپړېدلو پورې تر ۷۲ ساعته په بند کې وساتي. که پولیس پریکړه وکړي چې یوه دوسیه باید نوره هم وپلټل شي، لوي څارنوالۍ ته يې سپاري. د شکمن کس له اخیستلو وروسته، څارنوالي کولای شي چې د سپکو جرایمو (جنحه) لپاره د بند جواز تر اوو ورځو پورې او د جرم لپاره تر ۱۵ ورځو پورې ورکړي.

د محکمې په تایید، یو پلټونکی څارنوال کولای شي چې د شکمن کس توقیف ته د پلټنو د ترسره کیدلو سره سم دوام ورکړي، د توقیف د دوام موده به د جرم د شدت پورې تړلې وي. پلټونکی څارنوال کولای شي چې یو شکمن کس د وړو جرمونو له کبله تر ۱۰ ورځو پورې په توقیف کې وساتي، د جنحې لپاره تر ۲۷ ورځې او د درانه جرم لپاره تر ۷۵ ورځو. څارنوال مکلف دی چې په همدغه موده کې یا د محکومیت حکم برابر کړي یا شخص آزاده کړي؛ که مدافع شخص لا د وړاندې په توقیف کې وي، د تحقیقاتو موده نوره نشي اوږدیدلای. څارنوالانو اکثراً دغه موارد په پام کې نه نیول. داسې ګڼ راپورونه هم و چې قاضیانو بندیان د حکم تر بشپړیدلو وروسته پدې خاطر ساتل چې د آزادیدلو لپاره يې رشوت نه و وکړی. د بندیانو د مکالماتو حق یوه ستونزه پاتې شوه، او وکیلانو ته لاس رسی محدود و. په عمومي توګه بندیانو له خپلو کورنیو سره د لیدلو حق درلود.

د جزا په قانون کې، که څه هم چې ندرتاً کارول کیده، په ضمانت آزادیدل شته. چارواکو د محکمې د برائت سربیره ځیني «تیبنتیدونکي» مدافعین د څارنوالۍ تر استیناف غوښتنې پورې په بند کې ساتل. په ځینو نورو مواردو کې، چارواکو هغه مدافعین بیا نه نیول چې د مرافعې محکمې لخوا يې په غیابت کې محکومیت صادر شوی و. د نړیوالو څارونکو په حواله، څارنوالانو آن پداسې حال کې چې د جرم د ارتکاب په اړه کافي باور شتون نه درلود، د پولیسو لخوا د ورکړل شوو دوسیو په اړه د محکومیت حکم ورکاوه.

د ماشومانو د جزا قانون په اساس، «د ماشومانو نیول باید وروستی اقدام وي او باید تر ممکنې کچې پورې لنډ وي.» د راپورونو په اساس په ټول هیواد کې په دارلتادیبونو کې ماشومانو کافي خوړو، روغتیایی او روزنیزو اسانتیاوو ته لاس رسی نه درلود.

توقیف شوو ماشومانو سره اکثراً د بې ګناهۍ د انګیرنې په اساس چلند نه کیده، نه دوي د خپلو اتهاماتو په اړه پوهیدل، نه يې مدافع وکیل ته لاس رسي درلود او نه د جرم نه د ځان ساتنې په اړه پوهیدل. قانون حکم کوي چې د دارلتادیب لپاره باید ځانګړې پولیس، د څارنوالۍ دفاتر، او محاکم جوړ شي. د محدودو سرچینو له کبله، د دارلتادیب ځانګړو محاکمو یوازې په شپږو ولایتونو (کابل، هرات، بلخ، کندهار، ننګرهار او کندز) کې فعالیت درلود. نورو سیمو کې د ماشومانو دوسیې عامو محاکمو ته وړاندې کیدلې. قانون حکم کوي چې د ماشومانو دوسیې باید په محرم ډول ترسره شي.

په جزایي عدلي سیستم کې ځیني ماشومان په اصل کې د مجرم په ځای، مظلوم واقع کیدل. هلکانو لپاره د کافي امن ځایونو د نشتون له کبله، چارواکو هغه هلکان چې ترینه ناوړه ګټه اخیستل شوې وه

د دارلتادیبونو د بیارغاونې په مراکزو کې ساتل ځکه هغوی یې خپلو کورنیو ته نشوای ستنولای او نور د امن کورونه هم نه و.

پولیسو او نورو چارواکو اکثراً ښځې د زنا ( له واده بهر جنسي اړیکو) د ارتکاب په نیت تورنولې تر څو د کورنۍ او میړه نه د تیښتې، د هغه میړه د نه منلو چې کورنیو یې ورته خوښ کړی و، له کورنیو زورزیاتیو او جنسي تیرو نه تیښتې، یا د خپل خوښې واده لپاره تیښتې په څیر د خاصو ټولنیزو جرایمو په تړاو د هغوي د نیولو او بندي کولو توجیه وکړي. اساسي قانون حکم کوي چې په هغو مواردو کې چې پدې قانون او نورو قوانینو کې وضاحت نه وي، محاکم کولای شي چې د دې قانون د محدودیتونو په چوکاټ کې د حنفي مذهب (یو اسلامي حقوقي سیستم) په رڼا کې او پدې اصل چې عدالت او انصاف ښه تامین شوی وی، حکم وکړي. که څه هم څارونکو ویل چې دا اصل یوازې په پراخه توګه داسې انګیرل کیده چې یوازې په مدني دوسیو کې د تطبیق وړ دی، ډیرو قاضیانو او څارنوالانو په جرمي مسایلو کې هم پلی کاوه. څارونکو ویل چې چارواکو لدې مادې نه د هغو ښځو او نارینه و د تورنولو لپاره کار اخیست چې په «اخلاقي» یا «د کور نه په تیښتې» تورن شوي و، دغه دواړه جرم ندي. پولیسو اکثراً ښځې د کورنیو په وړاندیز د زنا په تور نیولې.

چارواکو ځینې داسې ښځې هم بندي کړې وې چې پر دوي د شوو جرمونو راپور یې ورکړی و، او ځینې ښځې یې د دې لپاره نیولې وې چې د هغو مړونه یا نور خپلوان چې د جرم په ارتکاب تورن بلل کیدل تښتیدلي و، ځانونه پولیسو ته وسپاري.

چارواکو ځینو ښځې په محافظتي توقیف کې ساتلې چې د کورنیو لخوا یې زیان ورته ونه رسیږي. د امن کور د نشتون په حالت کې، چارواکو دغه راز ځینې ښځې محافظتي توقیف کې وساتلې تر څو هغوي له نور زیان نه وساتي. د ۲۰۰۹ کال د ښځو په وړاندې د زورزیاتي د له منځه وړلو (سیډا) ولسمشریز فرمان – چې عموماً ورته د EVAW قانون ویل کیږي – پولیسو ته حکم کوي چې د ښځو په وړاندې زورزیاتي کوونکي ونیسي. خو د دې قانون په اړه پوهاوی او تطبیق یې محدود و. د مارچ په میاشت کې ولسمشر غني یو فرمان ورکړ چې د جزا په نوي قانون کې د ښځو په وړاندې د زورزیاتي د له منځه وړلو قانون (EVAW) په خپلواکه توګه پلی شي.

<u>خپل سري نیول:</u> په ډیرو ولایتونو کې خپل سري نیول او توقیف یوه ستونزه پاتې شوه. څارونکو راپور ورکړ چې څارنوالانو او پولیسو افراد بیله اتهاماتو او د داسې کړنو له کبله نیول چې په قانون کې جرم نه ګڼل کیدل، دا لدې کبله چې کیدل چې قضایي سیستم په سم مهال د توقیف شوو کسانو د دوسیو د بشپړولو وړتیا نلرله. څارونکو راپور ورکاوه چې اکثراً ښځې د اخلاقي جرایمو په تور نیول کیدې.

<u>تر محکمې وړاندې توقیف:</u> قانون وایي چې یو مدافع کس حق لري چې تر محکمې وړاندې د خپل توقیف پر وړاندې اعتراض وکړي او محکمه یې باید بیان واوري. خو تر محکمې وړاندې اوږدمهاله توقیف بیاهم یوه ستونزه وه. ډیرو بندیانو د جزایي قانون لدې کبله موادو ګټه نشوای اخیستلای چې

سرچينې کمې وې، د مدافع وکيلانو شمير لږ و، حقوقي ماهران لږ و، او فساد شتون درلود. قانون وايي که تحقيقات يا د محکوميت حکم د قانون ۱۰، ۲۷ يا ۷۵ ورځو په محدوده کې بشپړ نشي، قاضيان بايد مدافع کسان له توقيف نه آزاده کړي. خو قاضيانو آن د قانوني محدودې وروسته هم او د محکوميت د حکم پرته افراد په بند کې پريښودل.

بخښنه: د جنورۍ په مياشت کې حکومت د حزب اسلامي ګلبدين ۷۵ سياسي بنديان د ۲۰۱۶ د سپټامبر د تړون سره سم له بند نه آزاده کړل او پدې توګه يې د حزب اسلامي ګلبدين د غړو پخواني جنګي جرمونه، د دوي د مشر ګلبدين حکمتيار په ګډون، وبخښل.

**پ. د عامه منصفانه محکمې ردول**

قانون د يوې خپلواکې قضا حکم کوي، خو تر ډيره بريده له کمو مالي سرچينو، کمو کارکوونکو، لږ مسلکي روزنو او تر ډيره نااغيزمنه پاتې شوه او ورته ګواښونه، توپيري چلند، سياسي نفوذ کيدل او پراخ فساد پکښې و.

قضايي چارواکي، څارنوالان او مدافع وکيلان يا فاسده و يا ويرول کيدل. د مې په مياشت کې يوناما راپور ورکړ چې د فساد ضد عدلي مرکز چې په ۲۰۱۶ کال کې د فساد سره د مبارزې لپاره جوړ شو، تر اوسه ۱۴۲ دوسيو باندې حکم کړی چې پکښې له واک نه ناوړه ګټه اخيستنه، اختلاس، رشوت، د اسنادو جعل، او د پيسو پرېمنځل راتلل. رشوت او د عامه چارواکو، قوميمشرانو او د تورنو کسانو د کورنيو او له وسله والو ياغيانو سره د تړلو کسانو فشارونو، د قضايي ناپيلتوب زيانمن کړی و. ډيرو محاکمو کې عدالت په ناانډوله توګه تطبيق کيده چې د ليکل شوو قوانينو، شريعت او سيميزو دودونو ترکيبونونه جوړ شوی و. د ډيرو خلکو لپاره، په ځانګړې توګه په کليوالي سيمو کې، د دوديز عدالت ميکانيزمونه د ستونزو د هواري اساسي لارې پاتې شوې. په قضا کې فساد عام پاتې شو، او مجرمينو به د خلاصون يا د خپل محکوميت د تخفيف لپاره بډې ورکولې (څلورمه برخه وګورئ.)

د قاضيانو شمير په پراخه توګه، مخصوصاً په ناامنو سيمو کې، لږ و او لدې کبله ګڼې شخړې او دوسيې د غيررسمي او دوديز منځګړيتوب له لارې هوارېدلې. د ښځينه قاضيانو کمښت، په ځانګړې توګه له کابل نه بهر، عدالت ته د ښځو لاس رسی محدوده کړې و. ډيرې ښځې لدې کبله رسمي قضايي سيستم ته نه ورتللې چې دوديزو او کلتوري رواجونو له نارينه چارواکو سره د هغوي مخاطب کيدل ښه نه ګڼل. د ۲۱۶۲ قاضيانو په منځ کې يوازې ۲۳۴ يا ۱۲ سلنه ښځې وې.

رسمي عدلي سيستم په ښاري مرکزونو کې، مرکزي دولت ته نږدې، ځواکمن و او په کليوالي سيمو کې ضعيفه و. محاکمو او پوليسو د هيواد په کچه په ټول قوت فعاليت نه درلود. قضايي سيستم د نويو او تعديل شويو قوانينو د جذب او پلي کولو ظرفيت نه درلود. د مسلکي قضايي کارکونکو کمښت د محاکمو کار ټکنی کړی و. د قاضيانو په ګډون ځينو ولايتي او سيميزو چارواکو ډير لږ مسلکي زده

کړې لرلې او قضاوتونه به یې له شریعت نه د خپلو شخصي انګیرونو او بیله دې چې رسمي قوانینو، قومي او دودیزو ځانګړنو ته یې حواله کړي، کول. له حقوقي پوهنتونونو نه د فارغو شویو قاضیانو شمیر مخ په ډېریدو و. قانوني سرچینو او امکاناتو ته لاس رسی ډېر شو، خو محدود شتون یې د ځینو قاضیانو او څارنوالانو کار محدود کاوه. د اپریل او جولاي په میاشتو کې یوناما په یوې سروې کې وموندل چې قاضیانو د جزا د نوي قانوني کافي کاپیانې نلرلې.

د کال په لړ کې یوې څېړنیزې کمیټې چې په ۲۰۱۶ کال کې د ولسمشر غني لخوا ګمارل شوې وه، د فرخندې د دوسیې، چې په ۲۰۱۵ کال کې د خلکو لخوا د یوې ښځې د وژولو دوسیه وه، په اړه خپلې پلټنې پای ته ورسولې. د کمیټې په راپور کې پیښې ته د پولیسو، څارنوالانو او محاکمو ضعیفه غبرګون بیان شوی و. د کال په لړ کې پلټنې بیله نور اقداماتو، وتړل شوې.

په مهمو ښارونو کې محاکمو د قانون سره سم د جرمي دوسیو په اړه پریکړې کولې. چارواکو مدني دوسیې دعدلیې وزارت د حقوقو په لوی ریاست کې د دولت د منځګړیتوب د میکانیزمونو، یا په ځینو مواردو کې د دواړو اړخونو تر منځ د مذاکراتو چې د قضایي کارکوونکو یا شخصي وکیلانو له لوري به تسهیل کیدې، د غیررسمي سیستم له لارې هوارولې. لدې کبله چې په کلیوالي سیمو کې به اکثراً رسمي حقوقي سیستم نه و، سیمیزو مشرانو او شوراګانو (مشورتي غونډې چې معمولا د ټولنې لخوا ټاکل شوي نارینه و) به د جرمي مسایلو او د مدني لانجو د هوارولو لپاره کار کاوه. دوي به بیله دې چې رسمي حقوقي سیستم ته پاملرنه وکړي، مجازات اعمالول. یوناما او نادولتي سازمانونو راپور ورکړ چې په ډېرو مواردو کې د ښځو په وړاندې زورزیاتیو کوونکي چې کورنی زورزیاتی هم پکښې راتلل، د منځګړیتوب له لارې د ادعاوو تر هواري وروسته بیا په زورزیاتیو لاس پورې کړ. د بیلګې په ډول، یوناما وویل چې د طالبانو د منځګړیتوب یوې محکمې د میره د زورزیاتي یوه قرباني بیرته کور ته ولیږل او میره یې له هغه وروسته ترینه پزه پرې کړله.

په ځینو سیمو کې طالبانو د شریعت د سخت تفسیر په بنسټ بدیله قضایي سیستمونه جوړ کړي و. په مجازاتو کې یې اعدام او د بدن د غړو پرې کول و. د رسنیو د راپورونو له مخې، د فبرورۍ په میاشت کې د هرات ولایت د اوبې په ولسوالۍ کې د طالبانو یوې محکمې د غلا په تور د یوه سړي نه لاس او پښه پرې کړه.

**د محکمې بهیر**

اساسي قانون حکم کوي چې عادلانه او عامه محکمه د خلکو حق دی، خو قضا کې دغه حکم ډېر لږ تطبیق کیده. د عدالت تطبیق او مدیریت د هیواد په بیلابیلو برخو کې توپیر درلود. دولت رسماً یو تحقیقاتي حقوقي سیستم کاروي. د قانون له مخې ټول وګړي بیګناه انګیرل کیږي او تورن کسان باید خپلو محکمو کې ګډون ولري او د استنیاف غوښتنې حق ولري، خو قضا کې دغو اصولو ته تل درناوی نکیده. ځینو ولایتونو کې علني محکمې کیدلې، خو دا عمومي دود نه و. قانون حکم کوي چې قاضیان باید تر محکمې پنځه ورځې وړاندې خبر ورکړي، خو دغه اړتیا تل نه پلي کیدله.

د دريو قاضيانو ډله د جرمي محاکمو چارې ترسره کوي، او په اساسي قانون کې د خلکو د حکميت حق نشته. څارنوالانو ندرتاً تورنو کسانو ته د هغوي د تورونو جزئيات په فوري ډول ورکول. بې وزلي متهمين د امکاناتو د شتون سره سم په دولتي لګښت د حقوقي سلامشورې حق لري. قضا دې حق ته په غيرمنظمه توګه اجازه ورکوله، ډير لدې کبله چې د مدافع وکيلانو سخت کمښت شته. خلک اکثراً په اساسي قانون کې د خپلو حقونو په اړه بې خبره و. تورن کسان او مدافع وکيلان يې حق لري چې تر محکمې وړاندې د دوسيې په اړه د فزيکي شواهدو او اسناد ارزونه وکړي، خو څارونکو ويل چې د مدافع وکيلانو د غوښتنو سربيره د محکمې اسناد اکثراً د محکمې د بهير تر پيل وړاندې نه برابريدل.

د جرمي دوسيو مدافع څارنوالانو ويل چې قضا کې په جرمي محاکمو کې د دوې کار او ونډې ته ډير درناوی کيده، خو تورنو کسانو وکيلانو ته بيا د څارنوالانو او د قانون د انفاذ دنورو چارواکو لخوا ګواښنې کيدې او زورول کيدل.

د جزا قانون د تورن د توقيف په صورت کې د پلټنو له پيل نه تر وروستي اپيل پورې د جرمي دوسيو د هر پړاو د بشپړيدلو لپاره نيټه ټاکلې ده. قانون دغه راز په ضمانت د تورن د موقته آزادولو اجازه هم ورکوي، خو دغه اصل ته ندرتاً درناوی کيده. قانون کې يو ضميمه د هيواد د کورني او بهرني امنيت په ضد د جرايمو د دوسيو په لړ کې د توقيف د مودې د محدوديت د غځولو لارې چارې څرګندې شوې دي.

محاکمو د پروان په عدليمرکز کې په منظمه توګه لدغه قانوني مودې غځونې نه کار اخيست. د قانون له مخې که چيرې قضا زماني محدوديت پوره نکړي، تورن بايد له توقيف څخه آزاد شي. محاکمو کې دغه زماني محدوديت نه رعايت کيده، او تورن کسان په توقيف کې ساتل کيدل.

په هغو دوسيو کې چې قانون يې په اړه وضاحت نه درلود، يا قاضيان، څارنوالان يا نور مشران يې د حقوقي ماهيت په اړه نه و خبر، قاضيانو او غيررسمي شوراګانو دوديز قانون پلی کاوه. دغو چارو کې اکثراً د ښځو په وړاندې تبعيضي چلند کيده.

**سياسي بنديان او توقيف شوي کسان**

داسې هيڅ راپورونه نه و چې ګواکي دولت سياسي بنديان يا توقيف شوي لري.

**مدني قضايي طرزالعملونه او لارې چارې**

فساد او محدود ظرفيت د اساسي بشري حقونو د سرغړونو له کبله و عدالت ته د خلکو لاس رسی محدوده کړی و. خلک د بشري حقونو خپلواک کميسيون ته د بشري حقونو د سرغړونه شکايتونه

ورکوي، او دغه کمیسیون تر ارزولو وروسته کره شکایتونه لوی څارنوالۍ ته د نورو پلټنو او قانوني چلند لپاره سپاري.

**ن. په شخصي، کورني، کور یا مراسلاتو کې خپل سری یا ناقانونه مداخلت**

قانو په شخصي مسایلو کې خپل سری مداخلت منع کوي، خو چارواکو تل دغه اصل ته درناوی نه درلود. د جزا قانون کې د کور د خوندیتوب لپاره اضافي مواد شته چې د شپنیو نیونو، د کور د تلاشۍ په مهال د ښځینه مامورینو شتون، او د بدن تلاشۍ لپاره د ځواکمنې اړتیاوې پکښې شته. دولت دغو اصولو ته هر کله درناوی نه کاوه.

دولتي چارواکي په زور او بیله قانون جواز نه د خلکو کورونو او کاروبار ځایونو ته ورننوتل. داسې راپورونه هم و چې دولتي چاروکو بیله حقوقي صلاحیت او قضاي جواز نه د ټلیفوني او دیجیټالي مکالماتو په ګډون د خلکو شخصي مکالماتو څارنه کوله.

رسنیو او دولت راپور ورکاوه چې طالبانو په منظمه توګه د ملکي خلکو کورونه د خپلو عملیاتو لپاره د سپر په توګه کارول، لکه په مې کې په فراه او په اګست کې د غزني د بریدونو په مهال. داسې راپورونه هم و چې طالبانو او داعش-خراسان له ښونځیو نه د پوځي موخو لپاره کار اخیست.

**ف. په کورنیو جګړو کې سرغړونې**

د هیواد دننه جګړو له کبله د ملکي خلکو مرګ-ژوبله، یرغمل نیول، د بندیانو زورول، د شتمنیو ورانیدل، د ځاې خلکو بې ځایه کیدل او نورې سرغړونې رامنځته کیدې. امنیت حالات د وسله والو یاغیانو د بریدونو له کبله خراب و. ترهګرې ډلې د ملکي تلفاتو د ستر اکثریت لامل وې.

<u>وژنې:</u> د کال په لمړنیو نهو میاشتو کې یوناما د جګړې له کبله د ۲۷۹۸ ملکي خلکو د وژنې شمیر ورکړ چې دغه شمیره په ۲۰۱۷ کال کې د ورته مودې په پرتله دغه ۵ سلنه ډیره وه. یوناما دغه راز راپور ورکړ چې د دولت ضد ځواکونو لخوا په ناتوپیره ځانوژونکو بریدونو کې ډیروالی راغلی، په ځانګړې توګه په همدې موده کې په ننګرهار ولایت کې د ۲۰۱۷ په پرتله د ملکي مرګ-ژوبلې شمیر دوه برابر ډیر شوی و. یوناما د ملکي مرګ-ژوبلې ۶۵ سلنې پړه د طالبانو او داعش په ګډون د دولت ضد ځواکونو ته واړوله، او د ۲۲ سلنې پړه یې دولت پلوو ځواکونو ته واړوله.

د کال په لمړیو نهو میاشتو کې یوناما په هوایي بریدونو کې د ۶۴۹ ملکي مرګ-ژوبلې شمیر ورکړ چې د ۲۰۱۹ د همدې مودې په پرتله یې ۳۹ سلنه ډیروالی ښود. د بشري حقونو خپلواک کمیسیون په خپل کلني راپور کې وویل چې د ۲۰۱۷ کال د مارچ له میاشتې نه د ۲۰۱۸ کال تر میاشتې پورې ۳۲۳۹ ملکیان ووژل شول چې د تیر کال په پرتله یې ۱۵ سلنه زیاتوالی درلود. د بشري حقونو خپلواک کمیسیون د ملکيمرګ-ژوبلې د ۶۵ سلنې پړه د دولت ضد ځواکونو ته واړوله.

د اپریل په دویمه د افغان هوایي ځواک هیلیکوپترو د کندز ولایت په دشت ارچي ولسوالۍ کې د طالب ځواکونو په ضد عملیاتو کې یوه مدرسه وویشتله. پدغه برید کې ۱۰۷ کسانو ته مرګ-ژوبله واوښته او د یوناما په حواله ۸۱ پکښې ماشومان و.

یوناما د دولت ضد ځواکونو لخوا پر مذهبي مشرانو د بریدونو د ډیریدو اسناد راټول کړل، پدې کې په ۲۰۱۶ او ۲۰۱۷ کې ۲۷ قصدي وژنې هم وې چې د اکثریت پړه یې طالبانو ته متوجه وه. د اګست پر ۳، داعش-خراسان د پکتیا ولایت په ګردیز کې د شیعه ګانو پر یوه مسجد ځانوژونکی برید وکړ چې له امله یې د جمعې۳۹ لمونځ کوونکي ووژل شول.

دولت ضد عناصرو دغه راز هغو مذهبي مشرانو باندې بریدونه کول چې د طالبانو په ضد یې خبرې کولې. د مارچ پر ۷، یوه ځانوژونکي بریدګر د ننګرهار ولایت د حج او دیني چارو رئیس ملا عبدالظاهر حقاني ووژه. د جون پر ۴، داعش-خراسان په کابل کې د مذهبي علمانو پر یوې غونډې ځانوژونکی برید وکړ او ۱۴ کسه یې له هغه وروسته ووژل چې علماو د ځانوژونکو بریدونو د غندنې فتوا ورکړه، او د نوامبر ۲۰ پر یوې بلې مذهبي غونډې بمي برید وشو او ۵۵ کسه پکښې ووژل شول.

د کال په لړ کې د دولت ضد ډلو پر ملکیانو خپلو پیچلو او سختو بریدونو ته دوام ورکړ. د سپټامبر پر ۱۱، یوه ځانوژونکي بریدګر په ننګرهار ولایت کې یوه لاریون په نښه کړ او شاوخوا ۶۸ کسان یې ووژل او ۱۶۵ یې ټپیان کړل. د جنورۍ پر ۲۷، طالبانو په یوه امبولانس کې د چاودیدونکو توکو په مټ په کابل کې تر ۱۰۰ ډیر ملکي خلک ووژل. د جنورۍ پر ۲۰، طالبانو په کابل کې پر انترکانتیننتل هوټل برید وکړ او د ۱۷ بهرنیانو په ګډون ۴۲ کسه یې ووژل.

دولت ضد عناصرو دغه راز په ټول هیواد کې پر حکومتي چارواکو او ودانیو او دغه راز پر سیاسي کاندیانو خپلو بریدونو ته دوام ورکړ. د جولای پر ۳۱، بریدګرو د ننګرهار ولایت په جلال آباد ښار کې د کډوالو او راستنیدونکو چارو پر ریاست برید وکړ او لږترلږه ۱۵ کسه یې ووژل. د اپریل پر ۱۲، د غزنيولایت د خواجه عمري ولسوال او ۱۲ نور د ولسوالۍ پر ودانۍ د طالبانو په برید کې ووژل شول.

<u>یرغمل نیول:</u> یوناما په ۲۰۱۷ کې له جګړې سره تړلي د ۲۵۵ یرغمل نیولو د پیښو اسناد راټول کړل چې پکښې ۱۰۰۵ ملکي خلک یرغمل ونیول شول، پدې کې د ۲۱۵ پیښو پړه پر طالبانو واچول شوه. په جون کې طالبانو په کندهار کې ۴۴ ساختماني کارکوونکي یرغمل ونیول، او بیا یې د اګست په میاشت کې د سیمیزو مشرانو په منځګریتوب خوشې کړل.

<u>فزیکي ځورونې، مجازات او شکنجه:</u> د ۲۰۱۷ کال په اپریل کې د یوناما راپور ورکړ چې د ۲۰۱۰ نه وروسته، د پولیسو په توقیف کې د جګړې سره تړلو توقیف شوو کسانو په شکنجې کې تر

ټولو ډېر زیاتوالی راغلی دی. د دغه راپور پر بنسټ، د کندهار پولیسو د ۹۱ سلنه توقیف شوو کسان شکنجه کول - ګېډو ته اوبه پمپولې، خوټې به یې په پلاس ورکښکارلې، تر بې حسۍ پورې به یې خپه کول، یا به یې د بدن جنسي غړو کې بریښنایي شوک ورکاوه.

د جولای په میاشت کې افغان امنیتي ځواکونو یو ځای ملیشه قومندان او د ولسوالۍ د پولیسو مشر، نظام الدین قیصاري، نیوه. په یوه ویډیو کې چې وروسته ډېره خپره شوه لیدل کیدل چې امنیتي ځواکونو د قیصاري ساتونکي وهي او د دې کار له کبله د ځو ورځو لپاره مظاهرې وشوې.

دولت ضد عناصرو د ملکي خلکو مجازاتو ته دوام ورکړ. د ۲۰۱۷ کال په اګست کې طالبانو او د داعش-خراسان غړو د سرپل ولایت د سیاد ولسوالۍ په میرزا اولنګ کلي کې د ملکیانو په ګډون ۳۶ کسه د دولت د ملاتړ په تور ووژل. طالبانو هغه کس چې د اکتوبر په پارلماني ټاکنو کې یې ګډون کړ و ونیوه او هغه ګوته یې ترینه پرې کړله چې د رایې ورکولو لپاره یې رنګ کړې وه، د ګوتې رنګ د دې لپاره کیږي چې یو څوک دوه ځلې رایه ورنکړي.

دولت ضد ډلو په منظمه توګه ملکیان په نښه کول، د دې په ګډون چې په د دوي د وژلو او ټپي کولو لپاره یې له چاودیدونکو توکو نه په ناتوپیر ډول کار اخیست. مځکني ماینونه، ناچاودیدونکي توکي او له جګړې پاتي نور چاودیدونکي شیانو هم ملکي مرګ-ژوبلې رامنځته کولې. اې ان پي راپور ورکړ چې ناچاودل شوو توکو له کبله هره میاشت ۱۴۰ کسه وژل کیږي. رسنیو تل داسې راپورونه ورکول چې ماشومان له ناچاودل شوو توکو سره د تماس له امله وژل کیدل یا ټپي کیدل. د ښوونې وزارت او نادولتي سازمانونو د ماین په اړه د خلکو د پوهاوي هڅو ته په ټول هیواد کې دوام ورکړ. په کډوالو په چارو کې د ملګرو ملتونو سازمان او کډوالۍ نړیوال سازمان کډوالو او بې اسناده راستنو شوو کسانو ته د ماین د ګواښونو په اړه روزنه ورکوله.

په ۲۰۱۷ کال کې د ۲۰۱۶ کال په پرتله له چاودیدونکو توکو نه د ملکیانو په مرګ-ژوبلې کې ۱۲ سلنه کمی راغی. په ۲۰۱۷ کې له چاودیدونکو توکو نه د ټول ملکي کسانو د مرګ-ژوبلې ۸۱ سلنه ماشومانو جوړوله. چاودیدونکو توکو ۱۴۲ ماشومان ووژل او ۳۷۶ یې ټپیان کړل (۵۱۸ مرګ-ژوبله). په عمومي توګه په ۲۰۱۷ کې، یوناما د چاودیدونکو توکو له کبله د ۶۳۹ ملکیانو د مرګ-ژوبلې (۱۶۴ وژنې، ۴۷۵ ژوبلې) راپور ورکړ.

<u>ماشوم سرتیري:</u> راپورونه ورکړل شول چې د افغانستان امنیتي او دفاعي ځواکونو په ځانګړې توګه ملي پولیسو، سیمیزو پولیسو او دولت پوله ملیشو پخپلو لیکو کې ماشومان ګمارل. د بشري حقونو خپلواک کمیسیون راپور ورکړ چې دولتي امنیتي ځواکونو په کندهار کې ماشومانو نه کار اخیست. د کال په لمړنیو شپږو میاشتو کې یوناما هغې کره ادعاوې مستندې کړلې چې شپږ هلکانو د امنیتي ځواکونو لخوا ګمارل شوي او کارول شوي و. دولت په ټولو ۳۴ ولایتونو کې د ماشومانو د ساتنې ځانګې پراخې کړلې، خو نادولتي سازمانونو راپور ورکړ چې دغې ځانګې د اړینې څارنې لپاره کافي تجهیزات، مامورین او زده کړې نلرلې.

د دولت د یوه عملي پلان له مخې، ملي پولیسو د دې لپاره اقدامات ترسره کړل چې خپلو کارکوونکو ته د افرادو د عمر د ارزولو، د ماشومانو د ګمارلو په اړه د پوهاوي د لوړولو کمپاین، د ماشومانو د ګمارنې د ادعاو څېړلو، او په ځینو ولایتي مرکزونو کې د ماشومانو د احتمالي ګمارنې د ثبتولو څانګو لپاره کار وکړي. د ګمارنې یا استخدام بهیر د پیژندتون تر ارزولو وروسته شو چې په لړ کې د لږترلږه دوو سیمیزو مشرانو تصدیق ورکول کیده چې شخص د ۱۸ کالو دی او په امنیتي او دفاعي ځواکونو کې د ورګډیدلو وړتیا لري. د کورنیو او ملي دفاع وزارتونو دغه راز اوامر صادر کړل چې موخه یې په امنیتي او دفاعي ځواکونو کې د ماشومانو د ګمارنې او جنسي زورونې مخ نیوی و. رسنیو کې راپورونه و چې ځینو امنیتي او دفاعي ځواکونو ډلو کې ماشومانو نه د شخصي نوکرانو، حمایوي کاریګرو یا د جنسي موخو لپاره کار اخیستل کیده.

د یوناما په حواله، طالبانو او داعش-خراسان له ماشومانو نه د لمړۍ لیکې د جنګیالیو او د بم ایښودونکو په توګه کاراخیستلو ته دوام ورکړ. د اګست پر ۱، د داعش-خراسان یوه څه باندې ۲۰۰ کسیزه ډله په جوزجان ولایت کې دولت ته تسلیم شوه. د ځینو راپورونو په حواله، پدې ډله کې په لسګونو ماشومان، په شمول د لږترلږه څلورو تر ۱۲ کال لږ ماشون، و چې ډیری یې جنګیالي ماشومان و. که څه هم قانون د انساني قاچاق د قربانیانو ساتنه کوي، څرګنده نه وه چې آیا دولت به دغو ماشومانو سره د انساني قاچاق د قربانیانو په توګه چلند وکړي‌یا به یې د جنګیالیو په څیر مجازات کړي.

د کابل په لمړیو شپږو میاشتو کې یوناما د هغو کره ادعاو تایید او استناد وکړ چې ۲۳ هلکان د دولت ضد عناصرو لخوا ګمارل شوي و (۱۷ د تحریک طالبان پاکستان لخوا، ۲ د داعش-خراسان لخوا او ۴ د طالبانو لخوا). په ځینو مواردو کې طالبانو او د دولت ضد نورو عناصرو له ماشومانو نه په ځانګړې توګه په جنوبي ولایتونو کې د ځانوژونکو بریدګرو، انساني سپر، د بم ایښودونکو په توګه کار اخیست. رسنیو، نادولتي‌سازمانونو او د ملګرو ملتونو ادارو راپور ورکړ چې طالبان ماشومان خطا باسي، د پیسو ژمنه ورکوي، د درواغو مذهبي روایتونه ورکوي، یا یې په زوره ځانوژونکو بریدونو ته اړ باسي.

د انساني قاچاق په اړه د بهرنیو چارو وزارت کلنی راپور دلته ووینئ:
[www.state.gov/j/tip/rls/tiprpt/](http://www.state.gov/j/tip/rls/tiprpt/).

<u>جګړې پورې تړلې نورې زورونې:</u> د هیواد په ډیرو برخو کې د امنیتي چاپیریال د بشري مرستو سازمانونو پر آزاد فعالیت منفي اغیز درلود. زورزیاتیو او بې ثباتی د پرمختیایي، امداد او بیاجوړولو د هڅو مخه نیول. یاغیانو په قصدي توګه پر دولتي مامورینو او مرسته کوونکو بریدونه کول. نادولتي سازمانونو راپور ورکړ چې یاغیانو، سیمیزو زورواکو او د ملیشو مشرانو هیواد کې بشري مرستو رسولو او ویشلو ته د اجازه ورکولو په بدل کې بډې او رشوت غوښتل. دولت ضد عناصرو د روغتونونو او بشري کارکوونکو په نښه کولو ته دوام ورکړ. د رسنیو په حواله تر اګست میاشتې

پورې، ۲۳ مرسته کوونکي ووژل شول، ۳۷ ټپيان شول او ۷۴ وتښتول شول. په ۲۰۱۷ کال کې، يوناما پر روغتيايي مرکزونو او روغتياپالانو د ۷۵ امنيتي پيښو راپور ورکړ، چې له کبله يې ۳۱ ملکيان ووژل شول او ۳۴ ټپيان شول. په ۲۰۱۶ کال کې ۱۲۰ دغه راز پيښې شوې وې چې ۱۰ ملکيان پکښې وژل شوي و او ۱۳ ټپيان شوي و. د جنورۍ پر ۲۴، داعش-خراسان په جلال آباد کې د ماشومانو د ساتنې د سازمان پر دفتر برید وکړ او درې کسه يې ووژل. په اګست کې طالبانو ګواښ وکړ چې د سره صليب سازمان کارکوونکو نه به خپل امنيتي ضمانت بيرته واخلي.

په ختيځ او سويل کې، طالبانو او نور دولت ضد عناصرو اکثراً سيميز خلک مجبورول چې د دوي جنګياليو ته خواړه او سرپناه ورکړي. طالبانو دغه راز پر ښوونځيو، راډيوګانو، او دولتي ودانيو خپلو بريدونو ته دوام ورکړ. د رسنيو په حواله، د کال په لړ کې طالبانو د سلګو ښوونځيو د ترلو لپاره خپلو ګواښونو ته دوام ورکړ، اکثراً پدې هدف چې د ښوونې وزارت د معاشاتو له مالي سيستم نه پيسې وشکوي. د جون په مياشت کې، تر ۲۰۰۰ ډير اسلامي‌عالمان او د علماو د شورا غړي د کابل پوهنتون د پلتخنيک په سيمه کې راټول شول.

د جنون د ۴ پر سهار، د علماو ډلې يوه فتوا، يا مذهبي حکم، ورکړ چې د اورپکو ډلو لخوا ياغيتوب هيڅ ديني بنسټ نلري او دا چې ځانوژونکي بريدونه په اسلام کې منع دي. لږ وروسته، يوه بريدګر د شورا د کيږدۍ بهر چاودنه ترسره کړه او د شورا ۱۴ غړي يې ووژل او ۲۰ يې ټپيان کړل. د اګست پر ۱۵، يوه بل بمي بريدګر چاوديدونکي توکي د کابل په دشت برچي سيمه کې د موعود په روزنيز مرکز کې وچاودول. د بريد په مهال پدې مرکز کې شاوخوا ۵۰۰ زده کوونکي چې د شلو يا ټيټ عمر و د پوهنتون د آزموينې د زده کړو لپاره راغلي و چې ۳۴ تنه يې ووژل شول او ۵۷ يې ټپيان شول. د اګست پر ۱۶، اسلامي دولت د بريد مسووليت پغاړه واخيست. دغه روزنيز مرکز ته د کابل لږکي شيعګان ډير ورتلل. راپورونو ويل چې دغه بريد پر هزاره ګانو د بريدونو په لړۍ کې ترسره شو.

**دوهمه برخه. مدني آزاديو ته درناوي، په ګډون د:**

**الف. د بيان او مطبوعاتو آزادي**

اساسي قانون د رسنيو په ګډون د بيان د آزادۍ حکم کوي، خو دولت کله نا کله دغه حق محدودوه.

<u>د بيان آزادي:</u> قانون د بيان آزادي تضمينوي او په هيواد کې آزادې رسنۍ شته. راپورونه و چې ځيني وخت چارواکو د منتقدينو د خاموشه کولو لپاره له فشار، مقرراتو او ګواښونو نه کار اخيست. پر مرکزي حکومت نيوکې معمولې وې او په عمومي ډول محدوديت وربانديې نه و، خو پر ولايتي چارواکو نيوکې محدودې وې ځکه سيميز چارواکي او ځواکمن کسان د خلکو او رسنيو په ګډون پر خپلو منتقدينو د واک او زور ګواښنې کولې. د اپريل پر ۳۰، يو ځانمرګی بريدکونکی چې د رسنيو د پيژندنې کارت يې په ځان ځړولی و او د هغو خبرياالانو په ډله کې ورګډ شوی و چې د يوې مخکنی

چاودنې راپور يې جوړوه، په کابل کې ۹ خبريالانو او خبري عکاسان ووژل. دغې برید د یاغیانو ډلو لخوا د خبريالانو د ګواښونو، زورونو، وهلو، دزې وربانديې کولو او وژلو لړۍ لاپسې ترخه کړله.

د رسنيو او مطبوعاتو آزادي: خپلواکې رسنۍ فعالې وې او بيلابيل نظرونه يې څرګندول. معلوماتو ته د لاس رسي قانون د کال په لړ کې تعديل شو او د روڼتيا/شفافيت د نړيوال سازمان لخوا وستايل شو. د قانون تطبيق نيمګړی و او رسنيو په منظم ډول راپور ورکاوه چې دولت د قانوني اړتياوو په پوره کولو کې پاتې راغلی و. دولتي چارواکو اکثراً دولتي معلوماتو ته د رسنيو لاس رسی محدودوه او يا يې د رسنيو غوښتنو ته پاملرنه نه کوله. يوناما، د بشري حقونو څارډله او د بې پولو خبريالانو سازمان وويل چې دولت په بشپړه توګه معلوماتو د لاس رسي قانون ندی پلی کړی او خبريالان اکثراً هغو معلوماتو چې پسې ګرځي لاس رسی نشي موندلی.

ځيني وختونه، حکومتي معلوماتو ته د رسنيو لاسرسی محدود و او زياتره رسنۍ د داخلي جګړو له امله له ګواښ او تاوتريخوالي سره مخ کېدلې. د طلوع نيوز مشر وويل چې بريدونه چې خبريالان پکښې وژل کيږي د دولت د محدوديتونو د ډيريدلو، د لاس رسي د کميدلو او د ملاتړ د لږېدلو لامل شوي و.

خبريالانو راپور ورکړ چې دوي په کورنيو جګړو کې له ګواښونو او زورزياتيو سره مخامخ کيږي. سياستوالو، امنيتي چاراوکو او نور واکمنو به ځيني وختونه خبريالان د هغوي د کارونو پر سر ګواښول او ويرول به يې. د بشري حقونو څار ډلې د لسګونو هغو پيښو راپور ورکړ چې امنيتي ځواکونو، د ملي شورا غړو او نورو چاراوکو خبريالان په وړاندې زورزياتی کړی و او دولت د دغو پيښو په پلټنو کې پاتې راغلی و. د رسنيزو خبرونو په حواله، د ملي امنيت رياست د مارچ په ۲۵ په هرات کې په يوه جومات کې د چاودنې په اړه د ۱ټلويزيون او تمدن ټلويزون د خبريالانو د کار مخه په زور ونيوله.

د بيان آزادي او د رسنيو خپلواکي تر کابل ډير په ولايتونو کې محدوده وه. سياسي او قومي ډلو، د هغو ډلو په ګډون چې پخواني جهادي مشرانو يې مشري کوله، د ډيرو ولايتونو رسنيو تمويل کاوه او له خپل مالي ملاتړ له لارې يې د هغوي خپرونې کنټرولوې. په ځينو ولايتونو کې د رسنيو شميره په ټوليزه توګه لږ وه.

چاپي او انټرنټي رسنيو د خپلواکو مجلو، خبري ليکنو، ورځپاڼو او وب پاڼو خپرولو ته دوام ورکړ. ګڼو سرمقالو او ورځپاڼو کې پر څرګنده توګه پر دولت نيوکې کيدلې. خو بيا هم داسي انديښنې وې چې زورزياتی او بې ثباتي د خبريالانو خونديتوب ګواښوي. د بې سوادۍ د لوړې کچې له کبله، ډيرو خلکو کې نشراتي خپرونو تر چاپي او انټرنټي رسنيو ډير محبوبيت درلود. د نفوسو ډيره برخه، د لېرو ولايتونو د خلکو په ګډون، راډيو ته لاس رسی درلود.

زورزیاتي او ځورول: دولتي چارواکو او افرادو د زور د ګواښ په کارولو غوښتل خپلواکه او مخالفه خبریالان، په ځانګړې توګه هغه چې د معافیت، او د سیمیزو ځواکمنو کسانو د فساد په اړه یې خبرې کولې، وګواښوي. د رسنیو د راپورونو په حواله، د ملي امنیت ځواکونو په کابل کې د جولای په ۲۶ ځو خبریالان چې د یوه ځانوژونکي برید په اړه یې راپور جوړوه ووهل او قصداً یې د هغو د کار سامانونه ورمات کړل تر څو د هغوي د کار مخه ونیسي. د فساد په یوې دوسیې کې د یوه جګپوړي دولتي چارواکي د لاس لرلو په اړه د یوه خبري راپور تر خپریدلو وروسته، یوې رسنی راپور ورکړ چې د دغه چارواکي امنیتي ځواکونو خبریال ګواښولی و.

د افغان خبریالانو د خوندیتوب کمیټي (AJSC) راپور ورکړ چې د کال په لمړیو شپږو میاشتو کې ۱۱ خبریالان ووژل شول. په همدې موده کې، AJSC راپور ورکړ چې د خبریالانو په وړاندې ۸۹ د زورزیاتي پیښې ثبت شوې چې پکښې وژل، وهل، تیپي کول، بې عزته کول، ګواښل او بنديکول راتلل – دا د ۲۰۱۷ کال د لمړنیو شپږو میاشتو په پرتله ۲۲ سلنه زیاتی و. دولت پورې تړولو افراد یا امنیتي ځواکونه د زورزیاتیو د ۳۶ پیښنو مسوول ګڼل کیدل، تقریباً د ۲۰۱۷ کال په څیر چې د ۳۴ ورته پیښنو مسوولیت ورته راجع شوی و. د ۲۰۱۷ کال په همدې موده کې طالبانو او داعش-خراسان لخوا د زورزیاتیو د پیښنو شمیر ۷۰ سلنه زیات شو – له ۲۲ پیښنو نه ۳۷ پیښنو ته.

طالبانو پر رسنیزو سازمانونو خپلو بریدونو ته دوام ورکړ او د راپورونو په حواله په اګست کې د غزني پر ولایت د برید په مهال یې د یوې سیمیزې راډیو دفتر ته اور واچوه.

د ناامنیو پراختیا د خبریالانو لپاره چاپیریال ډیر خطرناکه کړی و آن که دوي د زورزیاتیو اصلي‌هدف هم نه و. په لیرې پرتو سیمو کې رسنیز سازمانونه او خبریالان د یاغیانو، جنګسالارانو او جنایتکارو ډلو ګواښونو، ویرولو او زورزیاتیو په وړاندې آسیب پذیره و. د کال په لړ کې پر څو خبریالانو د ناڅرګندو وسله والو کسانو لخوا بریدونه وشول، دوي ادعا کوله چې دغه بریدونه د ځواکمنو کسانو په اړه د دوي د راپورونو له کبله شوي و.

د ۲۰۱۶ کال په اګست کې د ملي امنیت شورا دفتر د خبریالانو په وړاندې د زورزیاتیو د دوسیو د هوارولو لپاره یو لړ نو لارښودونه تایید کړل، خو دغه لارښودونه هیڅکله پلي شوي ندي. د دغه نوښت پر اساس په کابل کې یوه مرکزي کمیټه او په د ولایتونو په مرکز کې ولایتي کمیټي جوړې شوې تر څو په همغږۍ سره د خبریالانو په وړاندې د زورزیاتیو مسوول کسان وپیژني، او د ملي امنیت د ملاتړ یوه کمیټه به د خبریالانو په وړاندې د زورزیاتیو د ګواښونو پیژندګلوي وکړي. د رسنیو د آزادۍ سازمانونو وویل چې دې کمیټي غونډې لرلې او دوسیې یې لوی څارنوالی ته ولیږلې، خو د خبریالانو لپاره خوندیتوب یې ډیر نکړ.

پر خبریالانو د وروستیو بریدونو په غبرګون کې ولسمشر غني په اکتوبر کې د خبریالانو د ملاتړ د صندوق اعلان وکړ تر څو د هغو خبریالانو له کورنیو سره مرستې وشي چې د کار په لړ کې وژل کیږي.

د رسنیو د ملاتړ سازمانونو راپور ورکړ چې ډیرو ښځینه خبریالانو د دې لپاره چې له پیژندنې، زورونې او غچ اخیستلو نه خوندي شي په چاپي او ټولنیزو رسنیو کې خپل اصلي نوم نه کاروه. د یوې ډلې په حواله، په نهو ولایتونو کې یوه ښځینه خبریاله هم نه وه: هلمند، نورستان، ارزګان،پکتیا، پکتیکا، ذابل، لوګر، سرپل او لغمان.

<u>سانسور یا د محتویاتو محدودول:</u> د رسنیو څارونکو ادعا کوله چې هغه خبریالانو چې د اداري فساد، د مځکو د اختلاس، او د مخدراتو په قاچاق کې د سیمیزو چارواکو د لاس لرلو په اړه راپورونه ورکول، په ځاني-سانسور لاس پورې کاوه ځکه د ولایتي پولیس چارواکو او ځواکمنو کورنیو له غچ اخیستلو ویریدل. خبریالانو او نادولتي سازمانونو ویل چې که څه هم د ۲۰۱۸ معلوماتو د لاس رسي قانون یو فوق العاده قانوني چوکاټ رامنځته کړی و، د قانون تطبیق تر ډیره حده نیمګړی و او سرغړونکو چارواکو ندرتاً حساب ورکاوه. د کابل مطبوعاتي کلب د یوې سروې له مخې تر نیماییډیر خبریالان حکومتي معلوماتو ته د لاس رسي له بهیر نه ناراضه و. د رسنیو د ملاتړ یوه سازمان د دولتي دفاتر یوه سروي وکړه او وې موندل چې یو په دریمه دفاترو کې د عامه معلوماتو د برابرولو لپاره مسوول دفاتر نشته.

<u>د افترا/بهتان قوانین:</u> د جزا قانون او د عامه رسنیو قانون د بدنامولو لپاره د زندان او جریمو حکم کوي. چارواکو ځیني وختونه له بدنامولو نه د یوې پلمې په توګه کار اخیست تر څو د دولت منتقدین وځپي.

<u>ملي امنیت:</u> خبریالانو شکایت درلود چې دولتي چارواکو ډیر ځلي د معلوماتو ته د لاس رسي قانون په وړاندې د ملي ګټو استثنا د دې لپاره کاروله چې معلومات پټ وساتي.

<u>د غیرحکومتي عناصرو اثر:</u> ځینو خبریالانو وویل چې دوي پخپلو راپورونو کې پر طالبانو او ځینو ګاونډیو هیوادونو لدې کبله نیوکې نه کولې چې د طالبانو له غچ اخیستلو ویریدل. یاغي ډلو په نامنو سیمو کې رسنیو په زور اړ ایستلې چې په خپلو خپرونو کې د امنیتي ځواکونو اعلانونه، د سرګرمۍ پروګرامونه، موزیک او د ښځو غږ خپور نکړي.

**د انټرنټ آزادي**

دولت انټرنټ ته د لاس رسي بهیر کې لاسوهنه نکوله او نه یې محدودوه، او داسې کره راپورونه هم نه و چې وښیي حکومت خصوصي آنلاین مکالمات بې له اړین قانوني صلاحیت نه څاري. د مخابراتو د نړیوالې اتحادیې په اساس، په ۲۰۱۷ کال کې ۱۱,۴ سلنه نفوس، په ځانګړې توګه په ښاري سیمو کې، انټرنټ ته لاس رسی درلود.

رسنيو او فعالينو معمولاً په ټولنيزو رسنيو کې سياسي چارې خپرولې او فيسبوک په پراخه توګه په ښاري سيمو کې کارول کيده. طالبانو د خپلو پيغامونو د خپرولو لپاره له انټرنټ او ټولنيزو رسنيو نه کار اخيست. د لوړ قيمت، د سيميزو محتواوو نشتون او بې سوادۍ له کبله، د انټرنټ د کارونې کچه ټيټه وه.

د کال په لړ کې ډير راپورونه و چې طالبانو د معلوماتو ته د لاس رسي د محدودولو په موخه، اکثراً د مخابراتي ستنو/پايو او تجهيزات په ورانولو لاس پورې کاوه.

**اکاډميکه آزادي او فرهنګي چارې**

هيڅ داسې رپوټ موجود نه و چې ګني حکومت دې د کال په اوږدو کې پر اکاډميکې آزادۍ او فرهنګي چارو محدوديت لګولي وي.

**ب. د سوله ايزو غونډو او ټولنو آزادۍ**

**د سوله ييزو غونډو آزادي**

دولت په عمومي توګه د خلکو د سوله ايزو غونډو د حق درناوی کاوه. د کال په لړ کې بې حسابه عامه غونډې او اعتراضونه وشول. د هلمند د سولې د کاروان نوښت – «د سولې کيږدۍ» اعتراضي نوښت چې د مارچ په ۲۶ په لښکرګاه کې د موټر له يوې بمي چاودونې وروسته پيل شو – په لږ تر لږه ۱۶ ولايتونو کې دجګړې ضد احساسات وپارول، چې اکثراً سوله ايز و.

**په ګوندونو کې د غړيتوب آزادي**

اساسي قانون کې د ټولنو او احزابو د آزادۍ حق خوندي دی او دولت په عمومي ډول دې اصل ته درناوی درلود. د ۲۰۰۹ کال د سياسي ګوندنو قانون له سياسي ګوندونو غواړي چې ځانونه د عدليې په وزارت کې ثبت کړي او د اسلام سره سم خپل اهداف ولټوي. په ۲۰۱۲ کې د وزيرانو شورا يوه طرحه تاييد کړه چې سياسي ګوندونه بايد تر ثبت کيدلو وروسته په حداقل ۲۰ ولايتونو کې خپل دفترونه پرانيزي. په ۲۰۱۷ کې ولسمشر غني يو فرمان لاسليک کړ او د امنيتي او قضايي ادارو په ځانګړې ډول د سترې محکمې، لوې څارنوالۍ، کورنيو چارو، ملي دفاع وزارت، او د ملي امنيت رياست کارکوونکي او چارواکي يې د کار په موده کې د سياسي ډلو له غړيتوب نه منع کړل.

**ج. د مذهب آزادي**

د باندنيو چارو وزارت د نړيوالو مذهبي آزاديو راپور ووينئ:
www.state.gov/religiousfreedomreport/.

**د. د تګ او راتګ آزادي**

قانون کې د هیواد دننه د تګ او راتګ، بهرني سفرونو، مهاجرت او بیرته ستنیدلو حق خوندي دی. دولت په عمومي ډول دغو حقونو ته درناوی درلود. دولت د کډوالو په چارو کې دملګرو ملتونو له اداري، د نړیوالې کډوالۍ له سازمان او نورو بشري سازمانونو سره همکاري کوله چې د هیواد دننه له بې ځایه شوو کسانو، کډوالو، راستنیدونکو کډوالو او نور د اندیښنې وړ کسانو سره مرستې وکړې. له اړمنو کسانو سره په مرسته کې، له ایران او پاکستان نه د راستنیدونکو په ګډون، د دولت وس محدود و او ډیر یې پر نړیوالې ټولنې ډډه کوله چې دغه ډول مرستې برابرې کړي.

<u>د هیواد دننه تګ او راتګ:</u> دولت په عمومي توګه د هیواد دننه تګ او راتګ باندې محدودیت نه و لګولی. ټکسي، لارۍ او بس چلوونکو ویل چې امنیتي ځواکونو او یاغیانو کله نا کله ناقانونه پاټکونو/تلاشۍ پوستو کې له مسافرو نه پیسې او مالونه شکول. د هیواد په ځینو برخو کې د سفر په وړاندې تر ټولو ستر خنډ د امنیت نشتوالی و. ټولنیزو دودونو د نارینه و د رضایت یا شتون پرته د ښځو د تګ او راتګ آزادي محدوده کړې وه.

**د هیواد دننه بې ځایه شوي خلک**

د کال په لړ کې د وسله والو جګړو او تاریخي وچکالۍ له کبله د کورنیو بې ځایه شوو خلکو خوځښت ډیر شو. د جنورۍ له ۱ نه د سپټامبر تر ۹ پورې نږدې ۴۷۰۰۰ خلک د هیواد دننه بې ځایه شول په دوي کې ۲۵۰۰۰۰ د وچکالۍ او ۳۰۰۰۰ د وسله والو نښتو له کبله بې ځایه شوي و. ډیرو بې ځایه شوو خلکو له ناامنه کلیوالي سیمو او وړو ښارونو نه په خپلو ولایتونو کې و سترو ښارو او ښارګوټو ته کډه وکړه چیرې دولتي خدمات نسبتاً ډیر و. په ټولو ۳۴ ولایتونو کې د هیواد دننه بې ځایه شوي کسان و.

د وران امنیتي وضعیت له کبله د بې ځایه شوو خلکو د پیژندنې، ارزونې او د مرستو رسولو چارې سوکه شوې وې او بې ځایه شوو خلکو د سرپناه او امنیتي خوندیتوب سربیره نورو لمړنیو خوندیتوبونو ته لاس رسی نه درلود. ډیرو بې ځایه شوو، په ځانګړې توګه هغې کورنۍ چې ښځو یې مشري کوله، د پیژندنې د اسنادو د نه لرلو له کبله د لمړنیو خدماتو په ترلاسه کولو کې ستونزې لرلې. د راپورونو له مخې ډیر بې ځایه شوي خلک په ښاري سیمو کې له تبعیض، د ځای د پاکوالې او نورو ابتدایي خدماتو د نشتون له کبله کړیدل او د هیواد دننه د بې ځایه شوو د ځار د مرکز په حواله، تل د استوګنو سیمو نه د شړل کیدلو له ګواښ سره مخامخ و. د بې ځایه شوو په کمپونو کې د ښځو په وړاندې د کورني تاوریخوالي ډیر راپورونه و. د لمړني بې ځایه کیدلو په لړ کې له محدودو فرصتونو له کبله به خلک بیا بې ځایه کیدلو ته اړ کیدل او دې کار به د دوي د ثبت او ځار چارې لا پسې ستونزمنولې. آن هغو بې ځایه شوو چې سیمیزو ټولنیزو خدماتو ته یې لاس رسی درلود هم د سیمو د اوسیدونکو په پرتله لږو خدماتو ته لاس رسی درلود، ځکه دوي د خدماتو له مرکزونو څخه لرې اوسیدل.

**د کډوالو خوندیتوب**

<u>پناه اخیستلو ته لاس رسی:</u>
دغه هیواد د ۱۹۵۱ کال د کډوالو د حالت کنوانسیون او د ۱۹۶۷ پروتوکول یې لاسلیک کړی چې د نه ستنولو په ګډون د کډوالو د ساتنې ضمانت کوي. د کډوالو په چارو کې د ملګرو ملتونو اداري په ټول هیواد کې د شاوخوا ۵۰۰ کډوالو د ثبت، د ستونزو د کمولو او ساتنې چارې سمبالولې. که څه هم دولت د کډوالو او پناه غوښتونکو د ملي کاري چوکاټ کومه مسوده نده تایید کړې، روزنیزو او روغتیایي خدماتو ته د کډوالو او پناه غوښتونکو لاس رسي ته اجازه ورکوي.

<u>د پایښت وړ حل لاره:</u> دولت په رسمي ډول د بیاستوګنې لپاره کډوال نه منل، هغو کډوالو ته یې چې په هیواد کې استوګن و تابعیت نه ورکاوه، او نه یې د هغو په بیرته ستنیدلو کې مرسته کوله. د کال په لړ کې له ایران او پاکستان څخه د کډوالو د بیرته ستنیدلو بهیر په تاریخي ډول ټیټو کچو ته راوغورځید چې د سپټامبر تر ۸ پورې یوازې ۱۲۰۵۲ تنه و او د ۲۰۱۷ په پرتله ۷۵ سلنه ټیټ و چې ۴۸۰۵۵ افغان کډوال بیرته راستانه شوي و. د کډوالۍ نړیوال سازمان راپور ورکړ چې د کال په لړ کې د ناثبت شوو راستنیدونکو کسانو شمیر خورا ډیر شو او د سپټامبر تر ۸ پورې یې شمیر ۵۴۵۷۰۸ ته ورسید، د دې کار یو اصلي لامل د وچکالۍ له کبله د ایراني ریال د ارزښت غورځیدل ویل کیدل.

د جون پر ۱۶، دولت اعلان وکړ چې غواړي د کډوالۍ د هراړخیز غبرګون له کاري چوکاټ سره د یوه اصلي هیواد په توګه یوځای شي. د کډوالو او راستنیدونکو د اجراییوي کمیټې له لارې، دولت د هغو تګلارو پرمختیا ته دوام ورکړ چې په ملي پروګرامونو کې راستانه شوي او د هیواد دننه بې ځایه شوي کسان ځای کوي، تر څو پدې توګه باعزته او ارادي راستنیدل او په ټولنه کې مدغم کیدل یقینيکړي.

**بې تابعیته وګړي**

نادولتي سازمانونو ویل چې د کډوالو د ماشومانو د زیږون نه ثبتول د کډوالو د ساتنې په وړاندې یوه ستره اندیښنه وه او دغه کار په اوږده مهال کې د بې تابعیته پاته کېدو او له حقونو څخه د محرومه کېدو زیانونه لرل.

**دریمه برخه. په سیاسي بهیر کې د ګډون آزادي**

قانون اتباعو ته فرصت ورکوي چې د آزادو او منصفانه مهالینو ټاکنو له لارې، چې رایې پکښې په خصوصي توګه کارول کیږي او ټول رایه ورکوونکي مساوي حق لري، خپل دولت انتخاب کړي. خلکو لدې حق نه د ۲۰۱۴ کال د ولسمشریزو او ولایتي شوراګانو او په ۲۰۱۰ او ۲۰۱۸ کلونو کې د ملي شورا په ټاکنو کې کار واخیست. د طالبانو او نورو دولت ضد ډلو زورزیاتیو او د پراخو

درغلیو او فساد ادعاوو د ۲۰۱۴ پر ولسمشریزو او د ۲۰۱۸ کال د ملي شورا پر ټاکنو سیوری غوړولی و خو د ټاکنو مخه یې ونه نیوله. اساسي قانون حکم کوي چې د ملي شورا ټاکنې باید هر پنځه کاله وروسته ترسره شي، خو د ټاکنیز سیستم په اصلاحاتو باندې د دولت د توافق د ناتوانۍ له کبله د ۲۰۱۵ کال ټاکنې تر ۲۰۱۸ پورې وځنډېدلې. د ملي شورا غړي چې د ۲۰۱۵ کال په جون کې یې پنځه کلنه کاري موده بشپړه شوې وه، د ولسمشر د یوه فرمان پر بنسټ پر خپلو دندو پاتې شول.

**ټاکنې او سیاسي مشارکت**

<u>وروستنۍ ټاکنې:</u> د اکتوبر پر ۲۰ او ۲۱ د ملي شورا ټاکنې د بیله دوو ولایتونو په ټولو ولایتونو کې ترسره شوې. د ۸،۸ میلیون ثبت شوو رایه ورکوونکو څخه شاوخوا ۴ میلیونو یې رایې ورکړې. کندهار کې ټاکنې د یوې اونۍ لپاره پدې خاطر وځنډېدلې چې د اکتوبر پر ۱۸ د هغه ولایت د پولیسو مشر عبدالرازق په یوه برید کې ووژل شو. د ټاکنو خپلواک کمیسیون تیرکال کې د یوې مخکنۍ سیاسي لانجې او ورپسې اعتراضونو له کبله چې پدې ولایت کښې یې د رایه ورکونکو د نوم لیکنې د بهیر مخنیوی وکړ، په غزني ولایت کې د ملي شورا د ټاکنو نېټه ونه ټاکله.

که څه هم ډیرو خلکو په ټاکنو کې ګډون وکړ خو د ټاکنو بهیر کې د بې نظمیو، د رایه ورکونکو په نوم لیکنې کې د درغلیو، د رایه ورکونکو ګواښول، په رایو کې درغلۍ لکه د ټاکنو د کمیسیون د مامورینو او پولیسو د مداخلت راپورونه ورکړل شول، او په ځینو برخو کې، د رایه ورکولو مرکزونه د سیمیزو مشرانو د فشار له کبله وتړل شول. د کورنیو چارو وزارت وویل چې ۴۴ کسان په ټاکنو کې د قانونه مداخلې او درغلیو په تور نیول شوي دي.

ملګرو ملتونو وویل چې ډلو، عمدتاً طالبانو، د ګواښونو او ویرولو له لارې د رایه ورکولو د بهیر مخنیوی کاوه. د راپورونو پر بنسټ، ۵۶ کسه له ټاکنو سره اړوند زورزیاتیو کې ووژل شول او ۳۷۹ نور ټپیان شول، پدې لړ کې په کابل کې یوې بمي چاودنې ۱۸ کسه ووژل. آزادۍ راډیو راپور ورکړ چې تر ټاکنو وړاندې د ملي شورا ۱۰ کاندیدان په بریدونو کې ووژل شول خو د دغو بریدونو ترسره کوونکي او د هغوي مدعا څرګنده نشوه.

یو شمیر تخنیکي مسایلو هم د ټاکنو بهیر وځنډاوه، پدې لړ کې د رایه ورکوونکو په نوملړونو کې تیروتنې، د رایه ورکوونکو د نوملړ ورکیدل، د ټاکنو د موادو ورکیدل او د ټاکنو د کارکوونکو کمښت و. په وروستیو شیبو کې د رایه ورکونکو لپاره د بایومتریک وسایلو معرفي کولو د ټاکنو په بهیر کې ابهام راوست او د رایې ورکولو بهیر کې یې ځنډ راوست. د ډسامبر پر ۶، د ټاکنو د شکایتونو کمیسیون د درغلیو د شکایتونو، خراب مدیریت او د رایې ورکولو په بهیر کې د بې نظمیو له کبله د کابل ولایت رایې باطلې اعلان کړې او د بیا رایې ورکولو غوښتنه یې وکړه، خو څو ورځې وروسته دغه کمیسیون خپله پریکړه له هغه وروسته بیرته واخیستله چې له حکومتي او د ټاکنو دکمیسیون له

چارواکو سره یې یو لړ غونډې وکړې اود کابل د رایو په تړاو یې د ډیرو معلوماتو د شریکولو غوښتنه وکړه.

د ټاکنو کمیسیون د کال تر پایه بیله غزني، کابل، ننګرهار، بغلان او پکتیا د ټاکنو لمړنۍ پایلې اعلان کړلې.

سیاسي ګوندونه او سیاسي مشارکت: د ۲۰۰۳ کال د سیاسي ګوندونو قانون د هیواد په تاریخ کې د لمړي ځل لپاره سیاسي ګوندونو ته حق ورکړ چې د رسمي بنسټونو په توګه شتون ولري. د دغو قانون له مخې د هیواد هر وګړی چې ۲۵ کاله یا پورته عمر ولري کولای شي چې سیاسي ګوند جوړ کړي.

قانون حکم کوي چې ګوندونه باید لږترلږه ۱۰۰۰۰ غړي د هیواد په ۳۴ ولایتونو کې ولري او د عدلیې وزارت سره ثبت شي، د ګوند سیاسي چارې سمبالې کړي او په ټاکنو کې خپل کاندیدان معرفي کړي. یوازې هغه کسان چې ۱۸ یا پورته عمر لري د دې حق لري چې د سیاسي ګوندونو غړیتوب ترلاسه کړي. د حکومت څرګند غړي، قضا، پوځ او د دولت پورې اړوند کمیسیونونه د کاري مودې په مهال د سیاسي ګوندونو له غړیتوب نه منع شوي.

د بې ثباتۍ او ناامنیو له کبله سیاسي ګوندونو د هیواد په ډیرو سیمو کې فعالیت نشو کولای. د نور ټاکنو په پرتله، سیاسي ګوندونو د ۲۰۱۴ کال په ولسمشریزو ټاکنو کېستره ونډه لرله، او له عبدالله او غني څخه د سیاسي ګوندونو، ځالو او سازمانونو څرګند ملاتړ د دغو کاندیدانو له بریا سره مرسته وکړه.

د ښځو او لږکیو ونډه: هیڅ قانون په سیاسي بهیر کې د ښځو او د لږکیو ډلو پر ګډون بندیز نه لګوي. اساسي قانون د ملي شورا په دواړو مجلسونو کې د ښځو او لږکیو لپاره د حداقل څوکیو سپیناوی کړی. اساسي قانون حکم کوي چې په ولسي جرګه کې (د ملي شورا د استازو مجلس) باید له هر ولایت څخه لږترلږه دوې ښځې انتخاب شي (مجموعي شمیر ۶۸). د ۲۰۱۰ کال په پارلماني ټاکنو کې، د اساسي قانون د حداقل تر کچې ډیرې څوکۍ وګټلې. د ۲۰۱۸ کال د پارلماني ټاکنو ګټونکي لا تراوسه اعلان شوي ندي. اساسي قانون دغه راز حکم کوي چې د ولسمشر لخوا په انتصابي وکیلانو کې باید نیم یې ښځې وې. دغه راز په ولسي جرګه کې د کوچیانو لپاره ۱۰ څوکۍ ځانګړې شوې دي. په مشرانو جرګې کې، د ولسمشر په انتصابي وکیلانو کې باید دوه کوچیانو او دوه د معیوبینو استازي وي. په عمل کې، په مشرانو جرګې کې یوه څوکۍ د سیکهانو یا هندوانو د استازي لپاره ځانګړې شوې ده، که څه هم دا په اساسي قانون کې ندی څرګند شوی.

ټولنیزو دودونو په سیاسي چارو او د ټولنې او کور دباندې کارکولو کې د ښځو ونډه اخیستنه محدودوله، او د ښځو لپاره د کار لپاره د محرم نارینه شتون یا اجازه اړتیا وه. د دغو لاملونو او ورسره د ښځو د تعلیمي او تجربوي تشو له کبله د مرکزي حکومت په جوړښت کې ډیر د نارینه و

ځيره ليدل کيدله. د ۲۰۱۶ کال د ټاکنو قانون وايي چې د ولايتي، ولسواليو او کليو د شوراګانو ۲۵ سلنه څوکۍ بايد د ښځو لپاره ځانګړې شي. د کال تر پايه نه د ولسواليو او نه د کليو شوراګانې جوړې شوې وې.

په دولت او سياست کې فعالې ښځې له ګواښونو او زورزياتيو سره مخامخ وې او طالبانو او نورو ياغيانو ډلو به وربانديې بريدونه کول. هيڅ قانون په سياسي چارو کې د لږکيو پر ګډون بنديز نه لګوي، خو بيلابيلو توکميزو ډلو ادعا کوله چې په هغو ولايتونو کې چې دوي لږکي و، و دولتي دندو ته يې انډوليزه لاس رسی نه درلود. پښتنو، چې داکثريت توکم دی، د ملي شورا په دواړو مجلسونو کې تر هر بل توکم ډيرې څوکۍ لرلې، خو دوي هم د څوکيو تر ۵۰ سلنه ډيرې نلرلې. داسې کوم څرګند اسناد نه و چې وښيي کومه ټولنيزه ډله دې شړل شوې وي. په تيرو ټاکنو کې، نارينه رايه ورکونکو د خپلو کورنيو د ښځو رايه ورکونکو په استازيتوب رايې ورکړې وې، خو د ۲۰۱۶ کال د ټاکنو قانون دغه کار باندې بنديز ولګاوه او د ۲۰۱۸ کال په پارلماني ټاکنو کې د لمړي ځل لپاره د ښځو پر ځای د نارينه راې ورکول ناقانونه و.

## څلورمه برخه. په حکومت کې فساد او د شفافيت نشتون

قانون حکم کوي چې په فساد ککړ چارواکي بايد جرمي مجازات شي. دولت قانون په اغيزمنه توګه پلی نکړ او هغه چارواکي چې په فساد کې ښکيل و، په معافيت کې اوسيدل. د راپورونو له مخې فساد په ټولنه کې پراخ شتون درلود او هغې پيسې چې له پوځ، نړيوالو مرسته کوونکو او د مخدراتو له قاچاق نه يې سرچينه اخيستله د فساد ستونزه يې لا نوره هم ډيره کړې وه.

د افغانستان د ساختماني سکتور د شفافيت نوښت راپور ورکړ چې په تيرو ۱۵ کلونو کې د دولت بنسټيزې پروژې له سمو قانوني ميکانيزمونو نه تيريدلې او د خپلوۍ پر اصل به ترسره کيدلې. دغه سازمان اټکل کاوه چې لدې کبله په ميلياردونو ډالر اختلاس شوی و.

د بنديانو او سيميزو نادولتي سازمانونو په حواله، فساد په قضايي سيستم کې پراخ شتون درلود، مخصوصاً د جرمي دوسيو په پلټنو او له بند نه د آزديدلو په چارو کې. د مثال په توګه، ګڼ داسې راپورونه و چې قاضيانو هغه بنديان نه آزادول چې د بند موده يې پوره شوې وه اود هغو له کورنيو نه يې پيسې غوښتلې. دغه راز راپورونه و چې چارواکو د بند د مودې د کمولو، د پلټنو د درولو او يا د تورونو د له منځه وړلو لپاره ناقانونه پيسې اخيستې وې.

په ملي کچې د سروې شميرو په عدلي سکتور کې د فساد يو ګډ انځور وړاندې کاوه. د ۲۰۱۷ کال د نړۍ د عدالت راپور د قانون د حاکميت سروې کې موندل شوي و چې د حکومت د حساب ورکولو په لړ کې د خلکو په ذهنونو کې يو څه سمون راغلی و. خو بيا هم، هغو کارپوهانو چې د دې راپور د جوړلو لپاره يې په يوې نظرارزوني کې ګډون کړی ويل چې فاسده څارنوالان د جرمي تحقياتو په چارو کې تر ټولو ستره ستونزه وه او فساد په جرمي محاکمو کې تر ټولو ستره ستونزه وه. د نظرسنجی

ډیرو ځواب ویونکو ویل چې له جګپوړو چارواکو نه به د اختلاس په تور تحقیقات وشي، خو دوي دغه راز د قاضیانو، څارنوالانو، د پارلمان غړو او د سیمیزو حکومتي چارواکو یادونه کوله چې ډیر امکان لري چې په فساد کې ښکیل وي. ځواب ویونکو دغه راز ویل چې بډې اخیستل په حکومتي چارواکو او ادارو، پولیسو او روغتونونو کې پراخ دود و.

د کال په لړ کې، د افرادو او رسمي اشخاصو له لوري د ځمکو د غصبولو راپورونه و. ډیر داسې معمول و چې شرکتونو په ناقانونه توګه د املاکو قبالې له فسادو چارواکو نه ترلاسه کولې او بیا به یې دغه اسناد او قبالې پر نورو خرڅولې او د دوهم لاس رانیونکي به وروسته تر پلټنو لاندې راتلل. نور راپورونه بیا داسې و چې دولتي چارواکي ځمکې بیله جبران نه پدې نیت ضبطولې چې بیا یې د قراردادونو د اخیستلو یا سیاسي ګټو د ترلاسه کولو لپاره معامله کړي. راپورونه و چې ولایتي حکومتونو په ناقانونه او نااصولي توګه او بیله دې چې جبران ورکړي ځمکې ضبطولې چې وربانديې عامه ودانۍ جوړې کړي.

<u>فساد:</u> د سپتامبر په میاشت کې ولسمشر پارلمان ته یو تقنیني فرمان ولیږه چې د فسادضد نوی قانون تصویب کړي تر څو د فاسد ضد د اقداماتو د څارنې او د فساد د لړولو په موخه د فسادضد کمیسیون جوړ شي. په نوي قانون کې د ولسمشر د جون ۲۰۱۶ هغه فرمان هم ځاې شوی چې پر اساس یې د فسادضد خپلواکه عدلي مرکز رامنځته شو. دغه مرکز دنده لرلې چې د لوړې کچې د فساد دوسیې وپلټي. د کابل په لړ کې د دغه مرکز د دوسیو د پرمختګ چارې دریدلې ښکاریدلې، که څه هم چې مرکز ته ډیر شمیر څارنوالان جذب شوي و.

د دغه مرکز څارنوالانو ته اضافي معاش او کور هم ورکول کیږي. د فسادضد خپلواکه عدلي مرکز او د سترو جرایمو د کاري ځواکدلې د فساد ضد د څانګې تقریباً نیمایي څارنوالان او مامورین د فساد په اړه د خپل پولیګراف (درواغ ارزولو ماشین) په آزموینو کې پاتي راغلي و. د دې سربیره، د سپتامبر تر ۲۰، د سترو جرایمو د کاري ځواکدلې په وړاندې د ۱۲۰ حکمونو او احضار پاڼو ګډه پرته وه چې باید د فسادضد خپلواکه عدلي مرکز مخې ته وړاندې شوي واې.

د بیلابیلو راپورونو په اساس، د دولتي ډیر کارونه، د ولسوالي او والي تر څوکیو پورې، د بډو او فساد له لارې پیرودل کیدی. پر هغو والیانو چې د فساد، مخدراتو د قاچاق او یا د بشري حقونو د سرغړونو تور لګیده، اکثراً د اجرایوي فرمانونو له لارې په دندو ګمارل کیدل او په نسبي معافیت کې کار کاوه. د بیلګې په ډول، ولسمشر غني ضیاالحق امرخیل چې د ټاکنو د شکایتونو د کمیسیون له لوري د فساد له کبله له کار نه ګوښه شوی و، په سیاسي او عامه چارو کې د ولسمشر د ځانګړي سلاکار په توګه وټاکه. غني دغه راز د هرات والي محمد یوسف نورستاني پداسې حال کې سنا ته انتصاب کړ چې د فسادضد خپلواکه عدلي مرکز د هغو د نیولو پخوانۍ جلب درلود. د فسادضد خپلواکه عدلي مرکز څارنوالانو له نورستاني نه د ځمکو د ناقانونه لیږد او له واک نه د ناوړه کاراخیستنې په تړاو تحقیقات کړي و او له هغه وروسته چې نوموړي د جلب حکم ته پاملرنه ونکړه او حاضر نشو، د هغه د نیولو حکم یې واخیست. نورستاني په نوامبر میاشت کې ځان چارواکو ته تسلیم کړ.

د کورنیو چارو وزارت د مامورینو لخوا د واک نه د ناوړه کار اخیستنې او فساد په اړه ډیرې ادعاوې وې. راپورونه و چې ولایتي پولیسو د تلاشۍ په پوستو کې له خلکو پیسې اخیستلې او د مخدراتو له سوداګرو څخه یې هم بډې اخیستلې. راپورونه و چې پولیسو له ملکي خلکو نه پیسې غوښتې چې له بند نه آزاده کړي یا یې ونه نیسي. د سترو جرایمو د کاري ځواکډلي د فساد ضد د څانګې تقریباً نیمایي کارکوونکي د فساد په اړه د خپل پولیګراف په آزموینو کې پاتي راغلي و. د کورنیو چارو وزارت جګپوړو چارواکو هم د جلب او نیولو د احکامو د لاسلیک کولو نه ډډه کوله. تر سپټامبر پورې د سترو جرایمو د کاري ځواکډلې ۱۲۰ د جلب احکام د پلي کیدلو په تمه و. په یوه مورد کې، د کورنیو چارو وزارت چارواکو د سترو جرایمو د کاري ځواکډلي د نیولو یو هدف، تورنجنرال زمری پیکان، ساتنه وکړه او هغه یې د کورنیو چارو وزارت په زرهي موټرو کې وایست. د دفاع وزارت هم د پیکان ساتنه کوله. د فسادضد خپلواکه عدلي مرکز جنرال پیکان په غیابت کې د ۲۰۱۷ کال په ډسامبر کې په فساد محکومه کړی او هغه ته یې د اته نیمو کالو جزا ورکړې و، خو د کورنیو چارو وزارت هغه نه نیولو.

<u>د شتمنیو برالا کول یا ثبتول:</u> د ۲۰۱۷ کال په اکتوبر کې د دولتي چارواکي او مامورینو د شتمنیو د ثبت او اعلان تقنیني فرمان خپور شو. د فرمان له مخې، د ولسمشر د اداري چارو اداره باید د دولتي چارواکو او مامورینو د شتمنیو د ثبت او مدیریت چارې ترسره کړي. ټول دولتي چارواکي، مامورین او انتخاب شوي چارواکي باید خپلې شتمنې څرګندې کړي.

دغې ادارې د جګپوړو دولتي چاواکو د معلوماتو د راټولو، ارزولو او خپرولو مسوولیت درلود. د څارنې عالي اداره د ۲۰۱۸ کال په مارچ میاشت کې منحله شوه. د قانون له مخې ټول دولتي چارواکي او مامورین باید هرکال او مهال چې دندې پیل کوي یا یې پای ته رسوي، د خپل ځان او د خپلو کورنیو د مالي عوایدو سرچینې او کچې څرګندې کړي. هغه کسان چې د شتمنیو فورمې په ټاکل شوي مهال نه سپاري یا یې نه سپاري له دندو او معاش نه ګوښه کیږي او پر سفر یې بندیز لګوي کیږي. پر هغو کسانو چې خپلې فورمې یې نه وې سپارلې د سفر بندیزونه لګول شوي و.

د کال په لړ کې دې ادارې په بریالیتوب سره د نږدې ۱۵۰۰۰ دولتي مامورینو شتمنی ثبت کړې چې د تیرکال په پرتله ستر پرمختګ یې وښود. د ادارې لپاره د شتمنیو د ارزولو بهیر لدې کبله ستونزمن و چې په ځینو دولتي ادارو کې منظمه سیستمونه نه شته. عامو خلکو ته مراجعه کولو دې ادارې ته زمینه برابره کړله چې مدني ټولنه او عام خلک د څرګندو شوو شتمنیو په اړه د تبصرې کولو فرصت ولري. د سپټامبر تر میاشتې پورې د پارلمان ایله دوو وکیلانو خپلې شتمنې څرګندې کړې وې.

**پنځمه برخه. د ادعا شویو بشري سرغړونو په اړه د نړیوالو او کورنیو نادولتي سازمانونو د پلټنو په هکله د دولت رویه**

د بشري حقونو کورنیو او نړیوالو ډلو د دولت له محدودیت پرته فعالیت درلود، او د بشري حقونو د دوسیو په اړه یې خپلې موندنې او تحقیقات خپرول. دولتي چارواکي څه نا څه د دوي د اندونو په وړاندې همکار و او ځواب یې ورکاوه. د بشري حقونو فعالینو اندیښنه څرګندوله چې د بشري حقونو سرغړونو په حکومتي واکمنو دندو کې پاتې شوي دي.

په ۲۰۱۷ کال کې دولتي چارواکو هڅې وکړې چې د جزا قانون او د جرمي اجرااتو قانون اصلاح کړي تر څو په ملي کچه د جرایمو او زورزیاتیو پلټنې او ګرویږنې وشي. د جزا په نوي قانون کې د نړیوالې جنایي محکمې (د روم اساسنامه) نه د بشریت ضد مواد ځای شوي دي.

<u>د بشري حقونو دولتي اداري:</u> اساسي قانون کې د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمیسیون ته دنده سپارل شوې ده چې د بشري حقونو ستونزې وڅیړي، خو دغې ادارې له دولت نه ډیر لږ تمویل ترلاسه کاوه او تقریباً په بشپړه توګه یې د نړیوالو پر مرستو تکیه کوله. د ولسي جرګې درې کمیټې دبشري حقونو په چارو کې کار کوي: د جنسیت، مدني ټولنې او بشري حقونو کمیټه؛ د مخدراتو ضد، نشه یي توکو او اخلاقي جرایمو کمیټه؛ او قضایي، اداري اصلاحاتو او فساد ضد کمیټه. په مشرانو جرګې کې د جنیست او مدني ټولنې کمیټې د بشري حقونو له اندیښنو سره کار درلود.

**شپږمه برخه. تبعیض، ټولنیزې سرغړونې، او د انسانانو قاچاق**

**ښځې**

<u>جنسي تیری او کورنی تاوتریخوالی:</u> د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي د له منځه وړلو قانون چې د کال په لړ کې د ولسمشر د یوه فرمان پر بنسټ تعدیلات پکې راوستل شول، د ښځو په وړاندې ۲۲ ډوله زورزیاتیو ته جرمي حیثیت ورکړی چې په دوې کې جنسي تیری، وهل او ټکول، په زوره واده کول، سپکول، ګواښول او ویرول، او له میراث نه بې برخه کول راتلل.

د جزا نوي قانون کې پر ښځو او نارینه و جنسي تیری جرم ګڼل شوی. قانون کې د جنسي تیري لپاره له لږترلږه ۵ نه تر ۱۶ کالو پورې بند په پام کې نیول شوی، یا تر ۲۰ کالو پورې که چیرې یو یا ډیر تشدیدونکي شرایط ولیدل شي. که د جنسي تیري په لړ کې قرباني مړه/مړ شي، قانون مجرم ته د مرګ سزا ورکوي. د جزا نوی کود، همدا راز په ځانګړي توګه له نابالغانو سره جنسي عمل (ولو که د هغو په رضا هم وي، یو ډول تجاوز دی) جرم ګڼي، او د زنا په تور د جنسي تیري د قربانیانو پلټنه هم منعه کوي. قانون کې هغو کسانو ته تر اوو کالو بند په پام کې نیول شوی دی چې د ښځو عزت او پاک-لمنی باندې تعرض کوي «چې مقعد یا د مخې جنسي ځای کې دخول نه وي کړی.» د قانون له مخې، پر خپلې ښځې د میړه لخوا جبري او تشدد آمیزه جنسي عمل، جنسي تیری نه ګڼل کیږي. چارواکو دغه قوانین تل نه پلي کول.

په کلیوالي سیمو کې څارنوالان او قاضیان د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي د له منځه وړلو قانون په اړه نه و خبر یا یې د فشار، کورنیو اړیکو، د زیان د ګواښ، بډو، یا هم لدې کبله چې ځینو دیني علماو دغه قانون غیراسلامي اعلان کړی و، قانون یې نه پلی کاوه. ښځینه قربانیانې له حبس نه نیولې تر ناقانونه وژنې له سختو تولنیزو غبرګونونو سره مخامخ وې. د سپتامبر په میاشت کې په فاریاب ولایت کې پولیسو یوه ښځه پدې تور ونیوله چې ګواکې په یوه آنلاین ویډیو کې له یو سړي سره چې ځان یې ملا معرفي کاوه، د زنا کولو په حالت کې لیدل شوې وه. دغه ملا چې تیښتیدلی دی د داسې ډیرو نورو ښځو په جنسي ګټې اخیستنې او جنسي تیریو تورن دی چې ده ته د مرستې لپاره ورغلې وې. د شریعت تفسیرونو هم د جنسي تیریو د دوسیو سمه پلټنه ستونزمنه کړې وه.

د جزا د نوي قانون په ۶۴۰ مادې کې د بکارت اجباري معاینات منع شوي دي مګر دا چې د فرد د رضایت یا د محکمې د حکم سره سم ترسره شي. د دغه بدلون په اړه پوهاوی او تطبیق یې محدود پاتې شوې و. د جولای په میاشت کې د عامې روغتیا وزارت یوه تګلاره خپره کړه او په ټولو روغتیایي کلینیکونو او روغتونونو کې یې د بکارت معایناتو باندې بندیز ولګاوه. داسې راپورونه و چې پولیسو، څارنوالانو او قاضیانو د زنا په څیر د «اخلاقي جرایمو» په لړ کې د بکارت د معایناتو امر ورکاوه. هغو ښځو چې د جنسي تیري له کبله یې د مرستې غوښتنه کوله به د بکارت معایناتو ته اړې کیدلې.

د جزا قانون کې وهل منع شوي او محاکمو د همدغه قانون او د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي د له منځه وړولو قانون د «زخمي کولو او معیوبولو» او وهلو-ټکولو د مندرجاتو په رڼا کې د کورنیو تاوتریخوالي مرتکبین محکومول. د نادولتي سازمانونو د راپورونو له مخې، په میلیونونه ښځې د خپلو مړونو، پلرونو، وړونو، خسرګنیو، وسله والو کسانو، بدیلو قانوني سیستمونو، دولتي ادارو، پولیسو او عدلي سیستمونو له لاسه کړیدلې.

لدې کبله چې په فرهنګي توګه کورني تاوتریخوالي ته د کورنۍ موضوع په سترګه کتل کیده، د کورني تاوتریخوالي په اړه اکثراً راپور نه ورکیده. کورني تاوتریخوالي ته د عدلي سیستم ځواب کافي نه و، قسماً لدې کبله چې دغه ډول پیښنو په اړه راپور نه ورکول کیده، د خبرو له لارې به حل کیدلې، د مرتکبینو په وړاندې زړه سوی کیده، فساد و، یا به کورنۍ یا به قومي فشارونه به و.

د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي د له منځه وړولو قانون د پلټنو څانګې په ۳۴ ولایتونو کې شتون درلود، او د لږترلږه ۱۶ ولایتونو په ابتدائیه او مرافعه محاکمو کې د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي د له منځه وړولو قانون مندرجات تطبیق ته وړاندې کیدل. د اګست په میاشت کې طالبانو په جوزجان ولایت کې یوه ښځه په ډزو ووژله. د والي د ویاند په حواله، دغه ښځه څو میاشتې وړاندې د کورني تاوتریخوالي له کبله له خپل کور نه د شبرغان په ښار کې یوه امن کور ته تښتیدلې وه. تر سیمیز منځګړیتوب وروسته، دغه ښځه بیرته خپل کور ته راستنه شوله خو وروسته بیا د طالبانو لخوا وویشتل شوه.

د هیواد په کچه په ۲۸ امن کورونو کې ځای کله نا کله کم و، په ځانګړې توګه په ښاري سیمو کې او امن کورونه اکثراً د هیواد په لویدیځ، شمالي او مرکزي سیمو کې و. ځینو ښځو لدې کبله د کورني تاوتریخوالي او زوروني په وړاندې قانوني مرستې نه غوښتې چې پخپلو حقونو نه پوهیدلې یا ویره یې لرله چې له دوې څخه به پلټنې وشي او بیرته به خپلو کورنیو او د تاوتریخوالي مرتکبینو ته ولیږدول شي.

په ځینو وختونو کې هغې ښځې چې ساتنې ته یې اړتیا لرله یا لدې کبله زندان ته اچول شوې وې چې په سیمه کې یې د ساتنې مرکز نه و یا دا چې په سیمه کې یې له «کور نه تیښته» اخلاقي جرم ګڼل کیده. زنا، جنسي فساد او اختطاف جرمي اعمال دي. د قانون له مخې له کور نه تیښته جرم ندی او پدې ترڅ کې هم ستره محکمې او هم لوی څارنوالۍ لاربښودونه خپاره کړي دي، خو ځینو سیمیزو چارواکو لا هم ښځې او انجونې له کور نه د تیښتې او د «زنا د نیت» په تور نیولې وې. د ښځو چارو وزارت او نادولتي ټولنو کله ناکله د هغو ښځو د ودونو په انتظام کې مرسته کوله چې خپلو کورنیو ته نشوای ستنیدلای.

<u>نور زیاني دودونه:</u> قانون د ښځو په زوره ودول او د کم عمره انجونو ودول او په بدو کې (د شخړو د هواري دود چې د مجرم کورنۍ بلې کورنۍ ته یوه انجلۍ په بدو کې ورکوي) ورکول او دغه راز د میړه په انتخاب کې د ښځو په حق کې مداخلت کول، جرم ګڼي.

نادولتيسازمانونو راپور ورکړ چې بد او لاهم ترسره کیږي، ډیرځلي په لروپرتو ولایتونو کې. د کورنیو تر منځ د ناویو تبادله (موخۍ) تر اوسه جرم نه ګڼل کیږي او په پراخه توګه ترسره کیږي. د جولاې په میاشت کې یوه سړي هغه نهه کلنه انجلۍ ووژله چې کورنۍ یې ده ته د ۹۷۲۰۰۰ افغانیو په بدل کې د ناوې په توګه پلورلې وه.

ناموسي وژنو په ټول کال کې دوام درلود. ظاهراً د ناموسي وژنې په یوه پیښه کې، په اپریل میاشت کې یوه سړي د فاریاب ولایت په اندخوی ولسوالۍ کې خپله خور په هغې ودانۍ کې په چاړه ووژله چې هلته یې پناه وړې وه. د مې په میاشت کې یوناما پخپل یوه راپور کې چې د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي د جرمي کړنو د منځګړیتوب په اړه و وویل چې د ۲۰۱۶ کال له جنورۍ نه د ۲۰۱۷ کال تر دسامبر پورې یې د ناموسي وژنو ۲۸۰ پیښې مستند کړې وې چې د دغو دوسیو یوازې ۱۸ سلنه مرتکبین محکومه شوي او بندي شوي و.

د راپور پر بنسټ، د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي د منځه وړلو قانون سربیره هم دولتي ادارو پر قربانیانو فشار اچوه چې دغې پیښې د سختو جرمونو د منځګړیتوب له لارې هواري کړي. د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي د منځه وړلو قانون دغه لارې چارې منع کوي ځکه پدې لړ کې دې ډول جرمونو مرتکبینو ته معافیت ورکول کیږي.

جنسي ځورونه: د ۲۰۱۷ کال د جنسي ځورونې ضد قانون په جنوری کې انفاذ وموند. دغه قانون د ښځو او ماشومانو هر ډول فزيکي، لفظي، رواني او جنسي ځورونه جرم ګڼي. دغه قانون ټول دولتي وزارتونو ته دنده سپاري چې د ځورونې د شکايتونو د ارزولو او د دغه راز ادعاو د مناسبه هواري لپاره داخلي کميټې جوړې کړې. د دغه قانون تطبيق او انفاذ محدود او نااغيزمن پاتې شو. د بشري حقونو خپلواک کميسيون راپور ورکړ چې ۸۵ سلنه ښځې او ماشومان له بيلابيلو ځورونو نه کړيږي. هغو ښځو چې يوازې له کور بهر نه تللي يا يې بهر کار کاوه اکثراً ځورول کيدې او يا به لاس وراچول کيده، بدې خبرې به ورته کيدلې يا به تعقيبيدلې. هغو ښځو چې عامه دندې يې لرلې کله ناکله به دوی او د دوی کورنيو ته ګواښونه کيدل.

د نفوس د کنټرولولو اجبار: اجباري نقصان (د نطفې له منځه وړل) يا غيرداوطلبانه خصي کولو په اړه راپورنه نه و.

تبعيض: هغو ښځو چې د ځورونې په اړه يې راپور ورکاوه يا يې د نورو مسايلو لپاره حقوقي جبران او اصلاح غوښتله په قضايي سيستم کې له تبعيض سره مخامخ کيدلې. د ښځينه قاضيانو په ګډون ځينو څارونکو ويل چې تبيعض د قانون له ناسم انفاذ او تطبيق له کبله رامنځته کيده. پيسو او نورو سرچينو ته محدود لاسرسی چې جريمه (يا بدې) ورکړي او دا ټولنيزه اړتيا چې ښځه بايد يو نارينه ساتونکی ولری، قضايي سيستم ته د ښځو لاسرسی او پکښې ګډون اغيزمن کړی و.

په ځينو ولايتونو کې څارنوالانو او قاضيانو نه غوښتل چې د ښځو په وړاندې د تاوتريخوالي د منځه وړلو قانون وکاروي، او قاضيانو به دغه ډول تورونه د جزا قانون له نورو مندرجاتو سره بدلول.

قانون حکم کوي چې د کار حق مساوي دی او بايد تبعيض پکښې نه وي، خو داسې قانوني مندرجات نه و چې ووايي د مساوي کار لپاره بايد مساوي معاش ورکړل شي. قانون حکم کوي چې د ښځو په کاري حق کې مداخلت کول جرم دی. ښځې په کارموندنې کې او په کاري شرايطو کې له تبعيض او توپير سره مخامخ وې. په عمومي ډول، د ملي مامورينو ۲۲ سلنه او امنيتي ځواکونو ۵ سلنه ښځې وې. ۳۰۰ ښځې په پوليسو او ۱۴۰۰ سرتيرې وې.

**ماشومان**

د زيږيدلو ثبت: د يوه ماشوم تابعيت له پلار څخه اخيستل کيږي. په هيواد کې زيږيدل يا د مور تابعيت نه ماشوم ته تابعيت نه ليږدوي. فرزندي اخيستل په قانوني توګه ندي پيژندل شوی.

تعليم: تعليم تر متوسطه کچې پورې اجباري دي (شپږ کاله ابتدائيه او درې کال متوسطه) او قانون وايي چې له هغه پورته تعليم د پوهنتون په ګډون وړيا برابريږي. يونيسف راپور ورکړ چې ۳,۷ ميليونه ماشومان د تبعيض، فقر، نه لاسرسي او د جګړې د دوام له کبله له ښونځي بې برخي و. يوناما دغه راز راپور ورکړ چې وسله والو ډلو تعليم ته د انجونو مخه نيول. د فبروری په مياشت کې د

ګواښونو له کبله د فارياب ولايت په څو کليو کې د انجونو ښوونځي وتړل شول چې له کبله يې په موقتي ډول ۳۵۰۰ نجوني له تعليم څخه بې برخې شولې. کله چې ۱۰ ورځې وروسته ښوونځي پرانيستل شول، اکثريت نجونې په لمړيو کې له ويرې بيرته ښوونځيو ته نه راتلې.

د نجونو د تعليم په وړاندې په اساسي خنډونو کې فقر، کم عمر کې او په زوره واده، ناامني، د کورنۍ نه ملاتړ، د ښځينه ښوونکو نشتون، او د نږدې ښوونځيو نشتون راتلل. د ۲۰۱۷ په اکتوبر کې د بشري حقونو څارډلې په يوه راپور کې وويل چې دولت د هلکانو په پرتله نجونو لپاره لږ ښوونځي برابر کړي او دغه راز د ښوونځيو په سهولتونو لکه امنيت، محرميت، پاکوالي، حفاظتي ديوالونو، تشنابونو، او اوبو کې هم نجونې په نااندوله توګه ډيرې اغيزمنې شوې وې.

پر زده کوونکو ماشومانو، په ځانګړې توګه پر انجونو، سختو بريدونو هم، په ځانګړې توګه د طالبانو تر واک لاندې سيمو کې، تعليم ته لاسرسي باندې محدوديت لګولی و. طالبانو او نورو اورپکو پر ښوونځيو، ښوونکو، زده کوونکو، په ځانګړې توګه پر انجونو، بريدونه او ګواښونه کول او د انجونو او هلکانو ښوونځي يې سوځل. رسنيز راپورونه و چې ښوونکو او د ښوونځيو چارواکو زده کوونکي، په ځانګړې ډول هلکان، له جنسي اړخه ځورول. دولت ادعا کوله چې کورنۍ ندرتاً پر خلکو عرض کوي ځکه يا پدې کار شرميږي يا د قضايي سيستم پر ځواب ويلو شک کوي. داسې راپورونه هم و چې هم ياغيانو ډلو او دولتي ځواکونو د ښوونځيو له ودانيو څخه د پوځي موخو لپاره کار اخيست.

<u>له ماشومانو سره بدچلند:</u> د جزا تعديل شوی قانون د ماشوم سره بدچلند او ورته بې غوري، جرم ګڼي. د ماشوم وهل، په فزيکي يا رواني ډول د ماشوم ډسپلينول يا بدچلند ورسره کول، له لسو زرو افغانيو (شاوخوا ۱۳۰ ډالر) جرمانې نه نيولې تر يو کال حبس پورې مجازات لري، پدې شرط چې ماشوم ته جدي ټپ يا معيوبيت نه وي اوښتی. د ماشوم ژوند له خطر سره مواجه کولو ته له يو کال نه تر دوو کالو پورې د حبس سزا شته يا له ۶۰ زرو افغانيو نه تر ۱۲۰ زرو افغانيو (۸۰۰ نه تر ۱۶۰۰ ډالرو) جريمه شته.

د راپورونو پر بنسټ، پوليسو ماشومانو وهل او په جنسي توګه يې ځورول. د راپورونو له مخې هغو ماشومانو چې له پوليسو نه يې د ځورونې په وړاندې مرسته غوښتله هم د قانون د انفاذ د چارواکو لخوا لا نور پسې ځورول کيدل، په ځانګړې ډول د بچه بازۍ (جنسي ساتيرۍ) په دوسيو کې چې پدې ډول به قربانيان د زورزياتيو له راپور ورکولو نه خواتوري شول. نادولتي سازمانونو راپور ورکړ چې د هيواد په کچه د ماشومانو عدلي سيستم عموماً په مجازاتي او سزاورکولو ولاړ و. که څه هم دا کار د قانون خلاف و، خو په ښوونځيو، د بيارغاونې په مرکزونو او په نورو عامه بنسټونو کې فزيکي جزا ورکول عام و.

داسې راپورونه و چې ځينې دولتي ځواکونو او دولت-پلوو ډلو له هلکانو او انجونو نه جنسي ګټې اخيستلې. د کال په لمړيو شپږو مياشتو کې يوناما هغه کره پېښه دوسيې مستندې کړلې چې د افغان ملي پوليسو او سيميزو پوليسو لخوا د شپږو هلکانو جنسي زورونې په اړه وې. د ۲۰۱۷ په جون کې

په داې کندي ولایت کې د افغان امنیتي او دفاعي پوځیانو یوه قوماندان یو تنکی ځوان (تر شلو کالو لږ عمر یې درلود) په جنسي توګه دومره وربېراوه چې وروسته یې ځان ووژه. د بچه بازیو په اړه ډیر شمیر راپورونه و. بچه بازي هغه دود چې نارینه له هلکانو نه د جنسي ټولنیزو ساتیرو لپاره کار اخلي. د رسنیو او نادولتي سازمانونو د راپورونو په حواله، د بچه بازۍ په اړه راپور نه ورکول کیدل او دغه ډول پیښې به منځګړیتوب ته راجع کیدل او دې کار به مرتکبینو ته د بیا ارتکاب زمینه ورکړله.

دولت د هلکانو د ځورونې د مخنیوي لپاره یو لړ اقدام ترسره کړل او دغه راز یې د مرتکبینو د پلټنې او مجازاتو لپاره هم اقدامات وکړل. د جزا نوی قانون کې بچه بازي د یو جلا جرم په توګه پیژندل شوې. دغه قانون د ۲۰۱۷ کال د انساني قاچاق او د پناه غوښتونکو د قاچاق د جرایمو په وړاندې د مبارزې د قانون، چې پکښې د ماشومانو د جنسي کارونې د کړنو د جرمي ګرځولو په اړه سپناوی ورکړل شوی، په دوام جوړ شوی. که څه هم چې بچه بازي په جزایي قانون کې راغلې، خو د اګست تر میاشتې پورې پدې اړوند هیڅ دول محکومیت نه و ابلاغ شوی.

<u>وختي او اجباري ودونه:</u> که څه هم قانون د انجونو لپاره د واده عمر ۱۶ کاله (۱۵ کاله د مور/پلار یا ولي یا محکمې په رضایت) او د هلکانو لپاره ۱۸ کاله ټاکلی دی، خو نړیوالو او کورنیو څارونکو ویل چې د وختي او اجباري ودونه په پراخه توګه په ټول هیواد کې ترسره کیدل. د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي د له منځه وړلو قانون له مخې، هغه کسان چې له کم عمره انجونو سره واده کوي یا دا ډول واده ته زمینه برابروي لږترلږه په دوه کاله بند محکوم کیږي، خو د دې قانون پلي کیدل محدود و. د جولاې په میاشت کې یونیسف او د کار، ټولنیزو چارو، شهیدانو او معیوبینو چارو وزارت پخپل یو ګډ راپور کې *چې په افغانستان کې د ماشومانو د واده* په اړه و وویل چې ۳۴ سلنه ښځې او ۷ سلنه نارینه چې عمرونه یې د ۲۰ نه تر ۲۴ کلونو پورې و، تر ۱۸ کلنۍ دمخه ودونه کړي وه. په ۲۰۱۷ کال کې دولت د ماشومانو او وختي ودونو د له منځه وړلو لپاره پنځه کلن د عمل ملي پلان پیل کړ.

د قانون په اساس د واده قرارداد کې باید تثبیت شي چې ناوې د ۱۶ کالو ده (یا د مور او پلار یا محکمې په اجازې ۱۵ کلنه وي)، خو د نفوسو ډیر لږ برخې د زیږون/ولادت تصدیق پاڼې درلودې.

د بدخشان له ولایت نه راپورونه و چې طالب ملیشو ځواني ښځې رانیولې او بیا یې په اجباري ودونو کې خرڅولې. د ملګرو ملتونو د پرمختیایي اداري د حقوقي مرستو یوې څانګې راپور ورکړ چې ښځو مخ په ډیریدونکي توګه د طلاق اخیستلو لپاره عرض کاوه.

<u>له ماشومانو نه جنسي ګټه اخیستنه:</u> قانون له ماشومانو نه جنسي ګټه اخیستنه جرم بولي. د بچه بازۍ د ناقانوني ګرځولو سربیره، د جزا په نوي قانون کې ویل شوي چې «که یو بالغ سړی له یو کم عمر انسان سره مجامعت (جنسي اړیکه) وکړي، دغه عمل به جنسي تیری وي او د قرباني (مفعول) رضایت به بې اعتباره وي.» د جزا قانون دغه راز د یوه ماشوم غیررضایتي جنسي تیری د شدیده جرم په توګه پیژني، او تر شلو کالو پورې حبس ورته ټاکي. د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي د له

منځه وړلو قانونه هغو کسانو ته چې یوه کم عمر انجلۍ په زوره فحشا ته اړ باسي له ۱۰ کالو نه تر ۱۵ کالو پورې حبس ټاکي. د جنسي ګټې اخیستنې لپاره د یوه ماشوم اخیستل یا له ماشوم نه د سکسي/بربنډو فلمونو او عکسو اخیستل د ۲۰۱۷ کال د انساني ترافیک د قانون په اساس د انسانانو ترافیک ګڼل کیږي، بیله دې چې د جرم نور عناصر شتون ولري.

<u>ماشوم سرتیري:</u> د ۲۰۱۶ کال په فبروۍ کې په پوځ کې د ماشومانو د استخدام د مخنیوی قانون انفاذ ته وړاندې شو. د جزا د اصلاح شوي قانون پر بنسټ، په پوځي لیکو کې د ماشومانو ګمارل له شپږو میاشتو نه تر یو کال پورې حبس لري. راپورونه وه چې د افغانستان ملي امنیتي او دفاعي ځواکونو او دولت پلوو ملیشو په محدود شمیر کې ماشومان ګمارلي او ترینه یې کار اخیستی و، او طالبانو او نور دولت ضد عناصرو ماشومان د پوځي موخو لپاره ګمارلي و (لمړۍ برخه وګورئ). رسنیو راپورونه ورکول چې دولت پلوو سیمیزو قومندانانو تر ۱۶ کالو ټیټ ماشومان ګمارل. طالبانو او نورو دولت ضد ډلو په منظمه توګه ماشومان د بریدونو لپاره ګمارل او روزنه یې ورکوله.

<u>بې ځایه شوي ماشومان:</u> د کال په اړ کې نادولتي سازمانونو او دولتي ادارو په سرحدي سیمو کې، په ځانګړې توګه په هرات او ننګرهار کې، د وچکالۍ له کبله د ډیر شمیر بې ځایه شوو کورنیو او د هغو د ماشومانو په هکله راپورونه ورکړل. که څه هم چې دولت په ۲۰۰۸ کال کې د سړک غاړې ګدایي منع کړه، نادولتي سازمانونو او دولتي ادارو راپور ورکړ چې ډیر شمیر ماشومانو د سترو ښارونو پر واټونو ژوند او ګدایي کوله.

<u>ماشومان په یتیمخانو کې:</u> په یتیمخانو کې دماشومانو د اوسیدلو شرایط وران وه. نادولتي سازمانونو راپور ورکړ چې په یتیمخانو کې له ۴ نه تر ۱۸ کلونو پورې د ماشومانو ۸۰ سلنه یتیمان نه وه او د هغو کورنیو و چې خپلو ماشومانو ته یې خواړه، سرپناه او ښوونځی نه شو برابرولی. په یتیمخانو کې ماشومانو د روحي، فزیکي او جنسي زوروني شکایت درلود او د کله نا کله به دوي د ترافیکو قربانیانو هم و. دغو ماشومانو پاکو اوبو، په ژمي کې ګرمو کوټو، د نلدوانۍ سیستم، روغتیایي خدماتو، د ساتیرۍ سهولتونو یا تعلیم ته منظمه لاسرسی نه درلود. امنیتي ځواکونو توقیف شوي ماشومان د دارلتادیب په مرکزونو کې ساتل چې د عدلیې وزارت پورې اړه لري، خو هغه ډله ماشومان چې د ملي امنیت د سرغړونو له کبله توقیف شوي و د پروان په توقیفځای کې ساتل کیدل. نادولتي سازمانونو راپور ورکاوه چې دغه ماشومان له عامه خلکو نه جلا ساتل کیدل خو بیا هم د افراطي کیدلو له ګواښ سره مخامخ و.

<u>د ماشومانو نړیوال اختطاف:</u> افغانستان د هاګ د ۱۹۸۰ د ماشومانو دنړیوال اختطاف د مدني اړخونو د کنوانسیون غړیتوب نلري. د باندنیو چارو وزارت خپور شوی د *ماشومانو د نړیوال اختطاف کلنی راپور* دلته وګورئ:

[https://travel.state.gov/content/travel/en/International-Parental-Child-Abduction/for-providers/legal-reports-and-data.html](https://travel.state.gov/content/travel/en/International-Parental-Child-Abduction/for-providers/legal-reports-and-data.html).

**د یهودیت ضد**

د یهودانو په ضد اعمالو په اړه راپورونه نه وه.

**د انسانانو ترافیک**

د انساني ترافیک په اړه د بهرنیو چارو وزارت راپور ووینئ:

www.state.gov/j/tip/rls/tiprpt/.

**معیوبین**

اساسي قانون کې د خلکو تر منځ هرډول تبعیض منع شوی او دولت ته دنده سپارل شوې ده چې له معیوبینو سره مرسته وکړي او د هغو د حقونو ساتنه وکړي، په شمول د روغتیایي خدماتو او مالي ساتنې. اساسي قانون دغه راز دولت ته دنده سپارې چې داسې اقدامات عملي کړي چې معیوب افراد په ټولنه کې د بیاورګډیدلو او فعاله ونډې اخیستنې لپاره جوګه شي. د معیوبینو د حقونو او امتیازاتو قانون وايي چې معیوبین باید په ټولنه کې مساوي حقونه او فعاله ونډه ولري. څارونکو ویل چې هم اساسي قانون او د معیوبینو د حقونو قانون په ټولیزه توګه له پامه غورځول شوی او پلي شوي ندي.

معیوب افرادو تعلیمي فرصتونو، دولتي ودانیو ته په ورتګ او اقتصادي فرصتونو ته په لاسرسي کې خنډونه مخې ته لرل او له ټولنیز انزوا او پیغور سره لاس او ګریوان و.

د امنیت نشتوالی د معیوبینو د پروګرامونو لپاره هم یوه ستونزه وه. په کلیوالي سیمو کې ناامني، چیرې چې د معیوبو افرادو ډیر شمیر ژوند کاوه، په ځینو برخو کې د مرستو رسولو لړۍ په ټپه درولې وه. اکثرو ودانیو کې د معیوبینو د ورتګ او خدماتو آسانتیاوې نه وې، او له همدې کبله ډیر معیوب افراد له تعلیم، روغتیا او نورو خدماتو نه بې برخې پاتې کیدل.

په مشرانو جرګې کې چارواکو د ولسمشر لخوا په انتصابي څوکیو کې دوې د معیوبینو لپاره ځانګړې کړې وې. د قانون له مخې، د دولت ۳ سلنه ټول مامورین باید معیوبین وي، خو دولتي چارواکو منله چې دا قانون ندی پلی شوی.

د معیوبینو د حقونو فعالینو ویل چې د فساد له کبله ځینو معیوبینو نشو کولای چې خپل امتیازات ترلاسه کړي. راپورونه و چې دولتي چارواکو د معیوبینو بورسیې او تعلیمي مرستې د هویت په جعل او غلا خپلو ملګرو او کورنیو ته ورکولې. نادولتي سازمانونو او دولتي چارواکو دغه راز ویل چې

د معیوبینو اتحادیو هڅه کوله چې د وزارت مامورین وګواښوي چې دوي د آپارتمانونو امتیازات برابر کړي.

**ملي/نژادي/توکمیز لږکي**

د بیلابیلو ډلو تر منځ قامي او قبیلوي جنجالونه په شخړو او وژلو اوښتل. په ټولنیزه توګه د شیعه هزاره ګانو په وړاندې د نژاد، حیثیت او مذهب په نامه تبعیض کیده او ترینه د ناقانونه مالیاتو په ډول پیسې اخیستل کیدې، په زوره په کار ګمارل کیدل، په فزیکي ډول ځورول کیدل او توقیف کیدل. د نادولتي سازمانونو په حواله، دولت اکثراً هزاره افسران د ملي پولیسو په لیکو کې په داسې سمبولیکو دندو ګمارل چې د کورنیو چارو په وزارت کې یې لږ واک درلود. نادولتي سازمانونو دغه راز راپور ورکړ چې د ملي امنیتي او دفاعي ځواکونو هزاره افسران د نورو توکمونو په پرتله ډیر د هیواد ناامنو سیمو ته استول کیدل. د کال په لړ کې داعش-خراسان پر هزاره ټولنیو خپلو بریدونو کې شدت راوست. پر شیعه ګانو، عموماً پر هزاره ګانو، بریدونو په لړ کې ۷۰۵ ملکي کسانو ته مرګ-ژوبله واوښته چې د جنورۍ له لمړۍ نه د سپتامبر تر ۳۰ پورې ۲۱۱ پکښې ووژل شول. د سپتامبر پر ۵، داعش-خراسان د سپورټ پر یوه مرکز برید کې ۲۰ کسه ووژل. دغه دواړه بریدونه د کابل په شیعه میشتې دشت برچې سیمې کې ترسره شول.

سیکهان او هندوان هم له تبعیض سره مخامخ و، دولتي دندو ته یې ناانډوله لاسرسی درلود، په ښوونځیو کې زورول کیدل، او په عامه ځایونو کې په لفظي او فزیکي ډولونو زورول کیدل. د جولای پر ۱، داعش-خراسان په جلال آباد کې د سیکهانو یوې ټولنې باندې برید کې ۱۹ کسه ووژل. پدغه برید کې د اکتوبر په ټاکنو کې یوازنی سیکه کاندید هم ووژل شو. بلاخره، د دغه وژل شوي سیکه کاندید زوی د هغه پرځای کاندید شو. د افغانستان د سیکهانو او هندوانو د شورا په حواله، په افغانستان کې د سیکهانو او هندوانو ټولنې ۹۰۰ غړي لرل.

**د زورزیاتي کړنې، تبعیض، او پر جنسي ځانګړنې او جنسیتي هویت تړلي نورې ځورونې**

قانون کې د یو جنیست وګړو تر منځ د رضایت پر اساس جنسي رویه جرم بلل شوې ده، او پدې لړ کې د پولیسو او ټولنې له لورې د ځورونو او زورزیاتي راپورونه و. قانون د جنسي ځانګړنې او جنسیتي هویت په تړاو تبعیض او ځورونه نه منع کوي. همجنسبازي ته په پراخه کچه د ننګ او بې شرمۍ په توګه کتل کیدل. د همجنسباران، دوه جنسبازانو، مخنثو او انترسکس (ال جي بي ټي آی) د ټولنې غړو مشخصو روغتیایي خدماتو ته لاسرسی نه درلود او د خپل جنسیتي هویت له کبله له دندو شړل کیدل. هغو سازمانونو چې د ال جي بي ټي آی ټولنې د غړو د آزادۍ ساتنه یې کوله په پټه توګه یې فعالیت درلود او له دولت سره یې ځانونه نشو ثبتولای. د ال جي بي ټي آی ټولنې غړو ویل چې د امنیتي ځواکونو لخوا نیول کیدل او په ټولنه کې ورسره تبعیض، بریدونه او جنسي تیري ورباندې کیدل.

**اچ آی وي او ایدز ټولنیز پیغور**

داسې تایید شوي راپورونه نه و چې د هغو کسانو په وړاندې چې اچ آی وي/ایدز لري تبعیض یا ځورول کیږي، خو د راپورونو له مخې په ایدز اخته کسانو ته په ټولنه کې سخت پیغورونه ورکول کیدل.

**۷ برخه. د کارګر حقونه**

**الف. د اتحادیې جوړولو آزادي او د ډله ایزو دریځ نیولو حق**

قانون کارګرانو ته حق ورکوي چې خپلواکه کاري اتحادیې جوړې او پکښې ګډون وکړي او د قانوني کاربندي او ډله ایز دریځ نیولو حق ورکوي. دولت په عمومي ډول د دغو حقونو درناوی درلود خو د قانون د انفاذ اسباب یې نلرل. قانون نه د اتحادیو څرګند تعریف ورکوي نه یې هم له کارکوونکو او غړو سره اړیکې بیانوي. قانون دغه راز د اتحادیو د ثبت قانوني لارې چارې نه تعریفوي نه یې هم د سرغړونې په هکله د مجازات سپیناوی ورکوي. قانون د اتحادیو تبعیض نه منع کوي نه هم د هغو کارګرانو بیرته په کار ګمارل بیانوي چې د اتحادیوي کار له کبله له دندې ګوښه کیږي. په اتحادیو کې د کارګر د ونډې اخیستلو د حق سربیره، قانون نور د اتحادیو په کار کې د کارګرانو د حق د ساتنې او په اتحادیوي کارونو کې د کارګرانو د حقونو په اړه څه نه وایي.

که څه هم قانون وایي چې د کار، ټولنیزو چارو، شهیدانو او معیوبیو د چارو عالي شورا د کارګرانو/کارکوونکو د حقونو د چارو تر ټولو عالي اداره ده، د قانون د انفاذ د مقرراتو نشتون د خپلو چارو په عملي کولو کې د شورا مخه نیولې وه. پدغه وزارت کې د تفتیش یوه اداره وه، خو مفتشینو یوازې مشورې او وړاندیزونه ورکول. له همدې کبله، د کار قانون تطبیق محدود پاتې شو ځکه د انفاذ یو مرکزي صلاحیت، د تطبیق مقررات چې طرزالعملونه تعریف کړي او د سرغړونو په وړاندې مجازات اعمال کړي، مالي سرچینو، پرسونل، او سیاسي هود شتون نه درلود.

دولت ډیرو اتحادیو ته د فعالیت اجازه ورکړې وه، خو د افغانستان د کارګرانو او کارکوونکو له ملي اتحادیې سره یې تعامل کاوه. په ۲۰۱۶ کال کې دولت یو فرمان خپور کړ او د افغان سوداګرۍ د څو اتحادیو د املاکو ملي کیدل یې اعلان کړل. کله چې په اپریل کې نړیوالو سازمانونو د دولت د دې کړنو په وړاندې احتجاج وکړ، پولیسو او پوځیانو په غبرګون کې په کابل او ۲۸ نورو سیمو کې د افغانستان د کارګرانو او کارکوونکو د ملي اتحادیې پر دفترونو برید وکړ او بند یې کړل. د اتحادیې جوړولو او په ډله ایزه توګه د دریځ نیولو آزادیو ته بعضاً درناوی کیده، خو اکثریت کارګران لدغو حقونو خبر نه وه. دغه بې خبري په ځانګړې توګه په کلیوالي سیمو او د کرهنې په برخه کې پرخه وه ځکه دغو کارګرانو اتحادیې نه وې جوړې کړې. په ښاري سیمو کې، اکثریت کارګرانو په

غیررسمي سکتور کې د روزمزدو په توګه په ساختماني چارو کې کار کاوه، چیرې چې نه اتحادیې وې او نه په ډله ایزه توګه دریځ نیول کیده.

## ب. د اجباري یا په زوره کارکولو (بیګارۍ) مخنیوی

قانون په کافي اندازه اجباري کار او د پور په ګرو کې کار کول جرمي ندي ګرځولي. نارینه، ښځې او ماشومان د پور په ګرو کې کارول کیږي، کله چې یو کارګر پور اخلي او په بدل کې یې کاري شرایطو ناوړه ګټه پورته کیږي او بلاخره یې ټولنه کورنۍ کله نا کله د څو نسلونو لپاره په دام کې لویږي. دا ډول د پور په ګرو کې کار د خښتو په فابریکو کې ډیر عام دی. ځیني کورنې په پوهه کې خپل ماشومان د جنسي ترافیک او بچه بازۍ لپاره پلوري (۷ برخې "ج" جزء وګورئ.)

د دولت له لوري د قانون انفاذ نااغیزمن و؛ سرچیني، تفتیش او د تصفیې چارې کافي نه وې؛ او دولت د اجباري کاري د له منځه وړلو لپاره ډیر لږ هلې ځلې کولې. د سرغړونو د مخ نیوي لپاره مجازات کافي نه ورکول کیدل.

دغه راز د *انساني ترافیک په اړه د باندنیو چارو د وزارت راپور* دلته وګورئ:

www.state.gov/j/tip/rls/tiprpt/.

## ج. د ماشومانو د کار مخنیوی او د کارکولو حداقل عمر

د کار قانون د کار کولو لپاره حداقل عمر ۱۵ کاله ټاکلی خو ۱۴ کلونو ته هم اجازه ورکوي چې د شاګردي کارونه وکړي. قانون ۱۵ کلونو او پورته ماشومانو ته اجازه ورکوي چې سپک او بې خطره کار وکړي، او ۱۵ نه ۱۷ کلونو پورې ماشومانو ته حق ورکوي چې په اونۍ کې تر ۳۵ ساعتونو پورې کار وکړي.

قانون په هیڅ شرایطو کې تر ۱۴ کلنو ټیټو ماشومانو ته د کار کولو اجازه نه ورکوي. قانون دغه راز په خطرناکو شرایطو کې چې د ماشومانو روغتیا وګواښوي یا یې د معیوب کیدلو لامل وګرځي، د کانونو د کیندلو او کثافاتو د ټولولو په ګډون، د کار اجازه نه ورکوي. قانون دغه راز د چاودیدونکو توکو په تولید ځایونو، د کثافاتو د پروسس په فابریکو، او سترو مسلخونو (د څارویو د حلالولو ځای)، د روغتونو په کثافاتو کې کار، د مخدراتو سره تړلی کار، د امنیتي ساتونکو خدماتو، او د جنګ په چارو کې د ماشومانو کار ته اجازه نه ورکوي.

ادارو او دفترونو کې ضعیفه ظرفیتونه د کار د قانون د پلي کیدلو په وړاندې ډیر جدي خنډ و. په نیمګړتیاو او تشو کې د د کاري مفتشینو لخوا د مجازاتو د ارزولو صلاحیت، د سرچنیو کموالی، تفتیش، تصفیه، او د سرغړونو په وړاندې مجازات و.

د ماشومانو کارکول یوه پراخه ستونزه پاتې شوه. د مې په میاشت کې د بشري حقونو خپلواک کمیسیون په کارځایونو کې د ماشومانو د شرایطو سروې وکړه او وې موندل چې ۹۰ سلنه کاریګر ماشومانو هره اونۍ تر ۳۵ ساعتونو ډېر کار کاوه او تر ۱۵ سلنو ډېرو ویل چې د کار په ځای کې له جنسي زوروني سره مخامخ کېدل. ماشومانو په کورونو کې د نوکر، د سړک غاړې پلورونکو، د غلا شویو اموالو پلورونکو او دوکاندارانو په توګه کار کاوه. ماشومانو د غالۍ اوبدلو په صنعت کې، د خښتو په بټیو کې، د سکرو په کانونو کې، او د کوکنارو په کروندو کې هم کار کاوه. ماشومان دغه راز په ډېرو سختو کاري شرایطو کې په کانونو، د مالګې په کانونو، په سوداګریز جنسي کارونې (۶ برخه ماشومان ووینئ)، پر پولو د مخدراتو قاچاق، او د سوالګرو په ډلو کې په کار بوخت و. ځینو کارونو کې ماشومان د مځکې ماینونو سره مخامخ کېدل. ماشون په کار کې له ګڼو روغتیایي او مصوونیتي خطرونو سره مخامخ وه. د کال په لړ کې راپورونه و چې ماشومان د ملي امنیتي او دفاعي ځواکونو په لیکو کې ګمارل شوي و. طالب ځواکونو پر ماشومانو فشار اچوه چې په جګړه ایزو فعالیتونو کې ونډه واخلي.

دغه راز د *ماشومانو د ترټولو بد ډول کارونو په اړه د باندنیو چارو د وزارت د موندنو راپور* دلته ووینئ:

www.dol.gov/ilab/reports/child-labor/findings.

**د. د کار او کارموندنې په تړاو تبعیض**

اساسي قانون تبعیض منع کوي او حکم کوي چې ټول خلک، «نارینه او ښځې»، د قانون په وړاندې یو شان حقونه او مسوولیتونه لري. قانون په څرګنده توګه ژبنیز تبعیض منع کوي. قانون کې په څرګنده توګه د نژادي، مذهبي، ملي، رنګي، جنسیتي، توکمیز، معوبیت او عمر پورې تړلي تبعیض په هکله څه نه وایي. قانون هغو کسانو ته چې تبعیض او ډلبازي خپروي تر دوو کالو پورې د حبس تجویز کوي.

په کارځایونو کې ښځې له تبعیض او سختو شرایطو سره لاس او ګریوان وې. ښځو د کارکوونکو یوازې ۷ سلنه جوړوله. ډېرو کورنیو پر ښځو فشار اچوه چې په کور کې پاتې شي او ښځو په کارموندنې کې لیدل چې تر دوي نارینه و ته ترجیح ورکول کیږي. زړو او مېروښو ښځو ویل چې تر ځوانو، پیغلو ښځو دوي ته کار موندل سخت و. هغو ښځو چې کار کاوه ویل یې چې دوي له اهانت، جنسي زوروني، د ټرانسپورټي خدماتو نشوالي، او د کار په ځای کې د وړکتونونو نشتوالي سره مخامخ وې. په خصوصي سکتور کې د نارینه او ښځو د معاشاتو تر منځ توپیره کېده. ښځینه خبریالانو، ټولنیزو کارکوونکو، او پولیسو ویل چې دوي اکثراً له ګواښونو او زورونو سره مخامخ کېدلې. معیوبین هم په کارموندنې کې له تبعیض څخه کړېدل.

هزاره ګان، سیکهان، او هندوانو هم، د پراخو ټولنیزو توپیرونو سربیره، په کارموندې او کاري مسوولیتونو کې له تبعیض سره مخامخ کیدل (۶ برخه، ملي/نژادي/توکمیز لړکي ووینئ.)

**ن. د منلو وړ کاري شرایط**

د دایمي دولتي کارکوونکو حداقل معاش په میاشت کې ۶۵۰۰ افغانۍ (۹۰ ډالره) و. په خصوصي سکتور کې د کارګرانو لپاره حداقل معاش نه و ځرګند، خو د خصوصي سکتور په غیردایمي چارو کې د کارګر معاش په میاشت کې ۵۵۰۰ افغانۍ (۷۶ ډالره) و. د اقتصاد وزارت په حواله، د نفوسو ۵۲ سلنې په میاشت کې د فقر تر کرښې – ۲۰۶۴ افغانۍ (۳۰ ډالره) په میاشت کې – لږ عاید درلود.

قانون کې د عامه او خصوصي سکتور کارکوونکو لپاره په معیاري توګه په اونۍ کې ۴۰ ساعته کارکول ټاکل شوي: په ورځ کې اته ساعته چې یو ساعت یې د غرمنۍ او د لمانځه لپاره و.
د کار قانون کې د غیررسمي سکتور د روزمزدو یادونه نده شوې، او پدې ډول هغوي له قانوني خوندیتوب نه محرومه پاته شوي. د کاري روغتیا او خوندیتوب مقرراتو شتون نه درلود او نه هم پدې لړ کې کوم رسمي معیارونه و. خو په قانون کې د ۱۵ نه تر ۱۷ کلونو ماشومانو، امیندوارو ښځو، هغې میندې چې کوچني ماشومان لري، دکانونو کارګرانو، او د روغتیایي خطراتو په نورو کارونو کې بوختو کسانو لپاره د اونۍ کاري معیار ټیټ ټاکلی و.

قانون کارګرانو ته د کار په بدل کې د معاش د ورکړې حکم کوي، وایي کارکوونکو ته باید د ملي رخصتیو سربیره رخصتي، په کار کې د رسیدلي ځاني زیان لپاره جبران، اضافه کاري، د کارکوونکو او د نږدې کورنیو غړو لپاره یې روغتیایي بیمه، او د نورو ییښو لپاره مرستې ورکړل شي. قانون اجباري کار منع کوي خو د سرغړونې په صورت کې مویدات نه ځرګندوي او وایي چې اضافه کاري باید د کارکوونکي په رضایت ترسره شي. قانون دغه راز وایي چې د کارکوونکو د ماشومانو لپاره باید وړکتونونه برابر شي.

دولت په اغیزمنه توګه دغه قوانین نه پلي کول. مفتشینو ودانیو ته د ورننوتلو هیڅ قانوني واک نه درلود نه هم سرغړونکو ته د مجازاتو واک درلود. د سرغړونو په وړاندې سرچینې، تفتیش، تصفیه او مجازات کافي نه چې د نورو سرغړونه مخنیوی وکړي.

د کار خاوندانو اکثراً له قانون سره سم چلند نه کاوه او ترجیح یې ورکول چې کارکوونکي په غیررسمي توګه استخدام کړي. اکثریت کارکونکو په اونۍ کې تر ۴۰ ساعتونو ډیر کار کاوه، اکثراً به معاش نه ورکول کیده، او په ځانګړې توګه په غیررسمي سکتور کې یې په بدو شرایطو کې کار کاوه. کارګران په عمومي ډول د قانون په اساس له خپلو ټولو حقونو بې خبره وه. که څه هم چې د کار په ځای کې د پیښنو په هکله هراړخیز معلومات او شمیرې نه وې، د بدو او خطرناکو کاري شرایطو په اړه ډیر راپورونه ورکول کیدل. ځینو صنایعو کې، لکه د خښتو بټیو کې، کارګرانو د پور

په ګرو کې پداسې شرایطو کې  کار کاوه چې ځانونه یې له اجباري کار نه نشوي ژغورلای او روغتیا او خوندیتوب یې له خطر سره مخامخ و.